د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

دعامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ټرانسپورټ او هوايي چلند

مجله

علمي، معلوماتي او فرهنګي خپرونه



- سلطان محمود غازي او د افغانستان ملکي هوايي چلند
- د خوست هوايي ډګر به نړيوالو الوتنو ته چمتو شي (مرکه)
- په افغانستان کې د لومړني موټر کيسه
- پر کعبې له پاسه ولې الوتنې نه کېږي؟
- فعاليت‌ها و دست آوردها
- په ۲۰۲۳ کال کې د نړۍ غوره هوايي ډګرونه

۲ ګڼه

۱۴۰۲ کال




خواجه عبدالله انصاري نړيوال هوايي ډګر (هرات)

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ

وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ

وَعَلٰى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ



# ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي | معلوماتي | او فرهنګي خپرونه

امتیاز خاوند: **ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت**
خپروونکی: د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست
مسئول مدیر: نورالله غازي
کتنپلاوی: امام الدین احمدي، حکمت الله آصفي
ظفرخان عاطف، عزیزالرحمن فراجغاني
عکاس: روح الله هنرجو
ډیزاینر: محمد هادی قاسمی
پته: انصاري واټ، ملي راډیو ټلویزیون ته څېرمه
ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت
اړیکي شمېره: (+93) 020 29 23 296
اېکسپاڼه: @DChInd
ویبپاڼه: www.mota.gov.af


- یادونه: له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د لیکوالانو پر غاړه دی.
- د مجلې له مقالو ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.

# په دې گڼه کې لاندې موضوعات لوستلی شئ


| | |
|---|---|
| سرلیکنه | ۱ |
| د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پیغام! | ۲ |
| سلطان محمود غازي او د افغانستان ملکي هوايي چلند | ۳ |
| پر کعبې له پاسه ولې الوتنې نه کېږي | ۵ |
| په افغانستان کې د لومړني موټر کیسه | ۶ |
| د خوست هوايي ډگر به نړیوالو الوتنو ته چمتو شي (مرکه) | ۹ |
| د ناسا تر غږ چټکه الوتکه | ۱۰ |
| نقش استراتژیک راه لاجورد در توسعه و پایداری اقتصاد افغانستان و... | ۱۱ |
| پر غږ او گرځوړ د هوا د فشار اغېز | ۱۸ |
| فعالیت ها و دستآوردها/ کړنې او لاسته‌راوړنې | ۲۰ |
| د یونان په یوه ښکلې جزیره کې پر موټرو بندیز لگېدلی دی | ۲۶ |
| هده‌ها و ترمینل‌ها | ۲۷ |
| په څو ولایتونو کې د اداري ودانیو د بنسټ ډبره کېښودل شوه | ۳۰ |
| بې پیلوټه باروړونکې الوتکه جوړېږي | ۳۱ |
| کورني ســفرونه | ۳۲ |
| بهـــــرني سفرونه | ۳۴ |
| په ۲۰۲۳ کال کې د نړۍ غوره هوايي ډگرونه | ۳۵ |
| شېرخان بندر | ۴۱ |

# سرلیکنه

دا چې افغانستان د اسیا زړه او د نړۍ یو داسې هېواد دی چې یو وخت یې پر سینه د وریښمو لار تېره وه او د سوداګریزو اوښانو بار کاروانونه د نړۍ ګوټ ګوټ ته پرې تېرېدل، همدې ارزښت ته په پام سره نړدې ده چې بیا پر دې هېواد ډېر ژر د سیمې او نړۍ د ځینو هېوادونو موټریز سوداګریز کاروانونه تېر او افغانستان د سیمې په یو مهم سوداګریز او ټرانزیټي څلورلارې بدل شي.

تېرې څو میاشتې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لپاره ډېرې مهمې او له لاسته‌راوړنو ډکې وې، په دې میاشتو کې په هېواد دننه د بېلابېلو غوره کړنو او لاسته راوړنو تر څنګ له نړیوالو او د سیمې هېوادونو سره هم په یو لړ مهمو موضوعاتو خبرې اترې وشوې، له بیلاروس، روسیې، قزاقستان، ازبکستان او پاکستان هېوادونو سره شپږاړخیزه ناسته وشوه او د یوه ګمکنې دهلېز په رامنځته کولو خبرې وشوې چې دا به له یادو هېوادونو سره د ټرانسپورټ، ټرانزیټ او سوداګرۍ په برخو کې یو لوی ګام وي، د دې دهلېز په فعالېدو سره به دا شپږ هېوادونه له یو بل سره وتړل شي.

په دې سربېره د ازبکستان د ټرانسپورټ وزیر په ګډون لوړپوړی پلاوی هېواد ته راغی، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له سرپرست او نورو اړوندو چارواکو سره په دوه اړخیزو ټرانسپورټي همکاریو خبرې وشوې او د دې ترڅنګ یې له لویو لارو او ټرانسپورټي برخو څخه هم له نږدې لیدنه وکړه او تر دې وروسته د ازبکستان، متحده عرب اماراتو سره د کابل په هوايي ډګر کې درې اړخیزه ناسته وشوه چې د نورو مسائلو تر څنګ په ټرانسپورټي او ټرانزیټي مسائلو هم ګټورې خبرې وشوې.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت پلاوي چین هېواد ته سفر ترسره کړ، هلته یې د یوه لار یو کمربند په دریم فارمټ کې برخه واخېسته او د دې ترڅنګ څه موده وړاندې نړیوالو پخپله اعتراف وکړ چې د افغانستان فضا د ټولو ملکي الوتنو لپاره خوندي ده او د سوادګریزو الوتنو د بیا پیلېدو خبر یې ورکړ او څه موده وړاندې د فلای دوبۍ هوايي شرکت هم الوتنې پیل کړې او د ځینو نورو نړیوالو هوايي شرکتونو الوتنې به هم که الله جل‌جلاله کول ژر پیل شي...

دا ټول خبرونه او ناستې د دې ښکارندویي کوي چې نړۍ او د سیمې هېوادونه دې ته وادار شوي دي چې د افغانستان اسلامي امارت سره خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړي؛ ځکه چې د افغانستان ځمکه او فضا تر بل هر وخت ډېره پرامنه او خوندي ده.

کـه الله جل‌جلاله کـول پـه دې نـږدې راتلونکي کـې بـه د دې شـاهـدان واوســو چې دا هېــواد بـه د سیـمه‌ییز اتصال پر یو ډېر مهم څـلورلارې بـدل وي، پـه همــدې لارو بــه له ټولې نړۍ سره وصل وو او موږ بـه په سیمه او نړۍ کې د یوه ژوندي زړه په څېر په درزېدو وو او د افغانستان له لارې بـه نورې نړۍ ته بېلابېل سوداګریز توکـي رسېږي.





# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پيغام!

دا چې تېرې څو مياشتې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لپاره مهمې، له لاسته راوړنو ډکې او د پام وړ چارې او خدموتونه پکې ترسره شول او هم د نړۍ او سيمې له هېوادونو سره په بېلابېلو برخو کې مهمې ناستې او هوکړې وشوې؛ خو د خواشينۍ ځای بیا دا و چې په افغانستان کې د زلزلې له کبله زموږ زيات شمېر هېوادوال شهيدان، ټپيان او بې کوره شول او د دې تر څنګ له ګاونډي هېواد څخه په نامناسب وخت کې په اجباري ډول زموږ هېوادوال راوويستل شول؛ خو الحمدالله اسلامي امارت او تر څنګ يې افغان ولس وکولی شول چې په پوره هوډ او مينه خپلو خلکو ته غېږه پرانېزي، د دوی بېړنۍ اړتياوې ورحل او په پوره خونديتوب يې تر خپلو سيمو او مېنو په وړيا توګه ورسوي. په نړيواله کچه بله د ډېرې خواشينۍ پېښه دا ده چې د فلسطين پر مظلوم ولس د ظالمو اسرائيلو او د دوی پلويانو د بې رحمه بمباريو او ځمکنيو حملو په پايله کې زيات شمېر بې دفاع عام وګړي، ښځې او ماشومان شهيدانېږي، هغه هوايي ډګرونه چې بايد د خلکو د ارامۍ او هوساينې لپاره وکارول شي، دوی يې د انسانانو وژلو او ځورولو لپاره کاروي او بيا د بشردوستۍ دعوه دار هم دوی دي. د الله جل‌جلاله وعده ده، چې يو وخت به د دوی کورونه هم بې صاحبه، وران او کنډواله پراته وي[۱] او د نورو لپاره به عبرت وي؛ ځکه چې هيڅ ظالم پايښت نه لري، تاسې ګورئ چې په ټوله نړۍ کې د اسرائيلو پر وړاندې د نفرت اور په پراخېدو دی، چې دا به اخېر هم د ظالمانو بنسټونه ورولړزوي او اخېر ونړوي. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت وياړي چې هېوادوالو ته د هوا او ځمکې له لارې خدمتونه وړاندې کوي د الله جل‌جلاله په نصرت او مرسته په دې دواړو برخو کې د پام وړ کارونه ترسره شوي دي او هڅې روانې دي چې هوايي او ځمکنی ټرانسپورټ تر دې هم معياري او پرمختللی شي، تر څو د هېوادوالو ستونزو ته پر وخت او چټکه رسېدنه وشي. زموږ اړيکې ورځ تر بلې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ټينګښت پيدا کوي، اوس نړۍ په دې پوهېدلې ده چې افغانستان د يوې پاکې رهبرۍ تر سيوري لاندې منظم اسلامي نظام لري او داسې امن پکې برقرار دی چې افغانانو په نږدې تېره نيمه پيړۍ کې نه و تجربه کړی.

**الحاج ملا حميدالله اخندزاده**
**د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست**

۱- سوره نَمل آیه - ۵۲

# سلطان محمود غازي او د افغانستان ملکي هوايي چلند

۱۳۰۵ل کال و چې محمود په یوه شاهي کورنۍ کې د افغانستان د دویم صدراعظم شاه محمود خان په کور کې نړۍ ته سترګې وغړولې، ده په هېواد او بهر کې لوړې زده کړې وکړې، په ۱۳۴۲ل کال د افغانستان د هوايي چلند لوی رئیس وټاکل شو. دی د افغانستان د هوايي چلند په تاریخ کې څلورم کس او دریم رئیس ګڼل کېږي. نوموړی د افغانستان د هوايي چلند په اسمان کې یو ځلانده ستوری دی، که په افغانستان کې د ملکي هوايي چلند یادونه کېږي، نو د سلطان محمود غازي یادونه باید په سر کې وشي؛ ځکه دی هغه څوک دی چې د افغانستان د هوايي چلند په برخه کې یې ډېر خدمتونه کړي دي.

ښاغلی غازي چې کله د هوايي چلند رئیس وټاکل شو، د هوايي چلند په برخه کې د پام وړ چټکتیا او پرمختګ رامنځته شو، د ده په ریاست کې د کابل، کندهار، مزار شریف، کندوز، هرات او جلال اباد هوايي ډګرونه په اساسي ډول جوړ او پکې د اسفالت ځغاستليکې، ترمينلونه، د اطفايي وسائل، د مخابرې او هواپېژندنې تجهيزات فعال شول.

په هغه وخت کې د هوايي چلند سره ګرځندويي هم تړلې وه او د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه سيلانيان راتلل او د افغانستان له تاريخي او ښايسته سيمو یې ليدنه کوله، چې له دې سره هېواد ته دوې ګټې رسېدې، له یوې خوا د افغانستان یو ښه تصوير نړۍ ته وړاندې کېده، له بلې خوا له سيلانيانو څخه ډېر عوايد لاسته راتلل چې د افغانستان په اقتصادي پياوړتيا کې یې مهم رول درلود.



دا چې په هغه وخت کې ځمکنۍ لارې تر هر ځایه نه وې غځېدلې او دې کار زيات لګښت درلود؛ نو په ۱۳۴۶ل کال د سلواغې په مياشت کې د دوو کاناډايي "ټوين اتر" الوتکو په پېرلو د باختر افغان الوتنه رامنځته او لومړنی بنسټ يې کېښودل شو، دې هوايي شرکت په هېواد کې د ننه په ډېره کمه بيه مسافر د افغانستان بېلابېلو ولايتونو ته لېږدول، چې په همدې موخه د افغانستان په ځينو ولايتونو کې د نورو نويو هوايي ډګرونو د جوړېدو چارې د امريکايي مورسين کمپنۍ سره د يو هوکړه ليک پراساس پيل شوې چې په سروې کې يې د ايکاو متخصص هلمن او د افغانستان د هوايي چلند انجنيرانو انجنيرګل علم، انجنير ميرولي جاناني او انجنير محمد نبي علومي برخه درلوده، کابو ۲۶ هوايي ډګرونه رامنځته شول او د جلال اباد، کندوز، اندخوی، باميان،

بهسود، ینګي قلعه، خواهان، درواز، شغنان، چهاربولک، بُست، قلعه‌نو، میمنه، چغچران، تالقان، سرپل، اُرګون، خواجه‌غار، اجیرستان، خاص‌اروزګان، ترینکوټ او د کران و منجان په نومونو هوايي ډګرونه په کابو لسو کلونو کې جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د دې هوايي ډګرونو په جوړېدو سره هغه ولایتونه چې له پلازمېنې او صنعتي مرکزونو څخه لرې پراته وو، له مرکز سره ونښلول شول او هغه وخت چې ځمکنی ټرانسپورټ ډېر محدود او له ډېریو لرې پرتو سیمو سره د دولت اړیکې نه وې، په هوايي ډول ورسره اړیکې ټینګې او خلک د دولت له خدمتونو خبر او له دولت سره ونښلول شول.

ښاغلي غازي ګرځندویۍ ته پاملرنه زیاته کړه او بهرنیو ګرځندویانو ته یې په بامیانو او ځینو نورو تاریخي او تفریحي سیمو کې د پام وړ اسانتیاوې برابرې کړې، ده غوښتل چې په ځینو نورو لرې پرتو سیمو کې هم ګرځندویانو ته د اسانتیاوو په پار هوايي ډګرونه جوړ کړي او بهرنیو سیلانیانو ته داسې زمینه برابره کړي چې د هېواد ګوټ ګوټ ته په اسانۍ سفر وکولای شي، هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي، د هرې سیمې خلک خپل بېلابېل توکي په ښه بیه وپلوري او په هېواد کې اقتصادي بډاینه رامنځته شي. د همدې موخو لپاره یې په ۱۳۴۸ل کال د کابل مشهور او عصري هوټل (اینټرکانټیننټل) د کابل باغ‌بالا په ښکلې سیمه کې جوړ او د بهرنیو سیلانیانو پر مخ پرانیست.



د انټرکانټیننټل هوټل پر جوړېدو کابو دوه میلیونه افغانۍ لګښت راغی، چې په هغه وخت کې پر بلې ودانۍ دومره لګښت نه و راغلی. د دې هوټل جوړېدو له امله پر سلطان محمود غازي نیوکې زیاتې شوې، چې ګواکې د هوټل پر جوړېدو زیات لګښت راغلی دی، ځینو محصلینو لاریونونه وکړل او د هوايي چلند د رئیس دا کار یې وغنده؛ خو ښاغلي غازي ملت ته وعده ورکړه چې د دې هوټل موخه د بهرنیو سیلانیانو راجلبول دي او که الله جل‌جلاله کول دا لګښت به ژر بېرته ترلاسه کړو. همدا و چې له دې هوټل څخه یې په درېیو کلونو کې دوه‌نیم میلیونه ډالر لاسته راوړل.

دا چې د ملکي هوايي چلند معیاري کولو او لا ډېر پرمختګ لپاره فني او مسلکي کادرونو ته اړتیا درلوده، په لومړیو کې یو شمېر هندي متخصصین په بېلابېلو برخو کې وګمارل شول، په کندهار او کابل کې د هوايي چلند روزنیز ښوونځي پرانېستل شول او د دې ښوونځیو څخه فارغان ملکي هوايي لیکو ته جذب او د فني مامورینو په توګه په مرکز او بېلابېلو ولایتونو کې په دندو وګمارل شول.

ښاغلي سلطان محمود غازي په پوره شوق او مينه خپلې خاورې ته خدمت کاوه او په پوره چټکۍ او معياري ډول يې خپلې چارې پر مخ وړې.

د ده زړه هغه مهال مات شو چې يوازينی ځوان زوی مسعود محمود يې د لوګر اړوند تېرې په کوتل کې د موټر راغورځېدو په پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکړ، د ځوان او نازولي زوی مړينې ښاغلی غازي پر ملا غوټ مات او په غمونو کې راګير کړ.

د سردار داود خان په ځينو ګمارنو چې په اخېرو کې يې ترسره کړې، سلطان محمود غازي ترې خوابدی او په رسمي توګه يې خپله استعفا وړاندې کړه، علت يې دا و چې سردار داود به وړاندې هرکله په ګمارنو کې له ښاغلي غازي او سردار نعيم سره مشوره کوله، چې وروسته يې ځينې ګمارنې د دوی له مشورې پرته وکړې.

سردار سلطان محمود غازي نږدې پينځلس کاله د هوايي چلند د رئيس په توګه دنده ترسره کړه او په ۱۳۹۲ل کال د چنګاښ په مياشت کې د ۸۷ کلونو په عمر له نړۍ سترګې پټې کړې او جنازه يې د کابل په مرنجان تپه کې خاورو ته وسپارل شوه.

## پر کعبې له پاسه ولې الوتنې نه کېږي؟



تر اوسه پورې د سعودي عربستان حکومت کومې الوتکې ته اجازه نه ده ورکړې چې د کعبې پر سر تېره شي، دا چې ولې د کعبې پر سر کومه الوتکه الوتنه نشي کولی په لاندې ليکنه کې يې لوستلی شئ:

د سعودي عربستان د الوتنې يو کارپوه او پيلوټ حسين الغامدي په يوه ويډيويي کليپ کې، پر کعبه شريفه د الوت د ممنوعيت په اړه ويلي وو چې پر کعبه له پاسه د الوتکو د نه الوتنې علت دا دی چې د الله جل جلاله کور په يوه غرنۍ سيمه کې موقعيت لري او د الوتکو غږ د زيارت کوونکو پر روحيه بد تأثير لري او همدارنګه په الوتکو کې چې ځينې يې مسلمانان نه دي، د دوی تېرېدل د الله جل جلاله پر کور د اسلامي ارزښتونو خلاف عمل دی.

د سعودي عربستان حکومت تر اوسه کوم هوايي شرکت او پيلوټ ته اجازه نه ده ورکړې چې د کعبې شريفې پر سر الوتنه وکړي. دوی وايي هسې نه کومه الوتکه يې له کنټروله ووځي او يا په همدې پلمه کوم حاسد د کعبې شريفې د نړولو هڅه وکړي؛ ځکه خو تر دې دمه پکې کوم هوايي ډګر نشته او حاجيان د حج پر مهال لومړی نورو ښارونو کې له الوتکو ښکته کېږي او بيا په بسونو او نورو موټرو کې مدينې منورې او مکې مکرمې ته لېږدول کېږي.

# په افغانستان کې د لومړني موټر کيسه

نورالله غازي

کله چې موټر نه و او د موټرو لپاره لارې او سړکونه نه وو جوړ شوي، انسانانو له حيواناتو څخه ګټه پورته کوله، له دوی څخه يې د نورو اړتياوو تر څنګ د بار وړلو او د سپرلۍ اړتيا هم پوره کوله. کله چې د انسان غوښتنې او هيلې زياتې شوې او دې ته اړتيا پيدا شوه چې بايد د نړۍ بېلابېلې سيمې ووينې او له نورو انسانانو سره سوداګريزې او بېلابېلې اړيکې ټينګې کړي، نو د چټکوالي او ګرندیتوب فکر پيدا شو، همدا و چې موټر جوړ شو او د وخت په تېرېدو يې بڼو او ډيزاينونو کې بېلابېل بدلونونه راغلل، هغه لارې او روونه چې پخوا به پرې د اوښانو او نورو باروړونکو حيواناتو کاروانونه تېرېدل، د موټرو او لاريو لپاره سړکونه شول.

په افغانستان کې هم د نورې نړۍ په څېر لومړی د ټرانسپورټ او لېږد چارې د باروړونکو حيواناتو پرمټ ترسره کېدې. د ۱۱۵۲ل کلونو په شاوخوا کې چې د تيمورشاه د حکومت دور و، د لېږدوونکو حيواناتو لپاره ځانګړی کس ټاکل شوی و، چې دې کس به د هغه وخت د اداري جوړښت له مخې د لېږدوونکو څارويو چارې کنټرولولې او قافله‌باشي به يې باله. قافله باشي به څارويو ته خواړه، اوبه، واښه، وربشې او درووبشته تيارول، دې کس به د سفر او جنګ پر وخت د سپرلۍ لپاره غښتلي څرب اسونه برابرول او هم به يې د شاهي کورنۍ د



تفریح لپاره ښه شوقي اسونه ساتل. له کابل نه به چې څوک تر هندوستانه تلل، پر آس باندې به په نهو شپو ورځو کې رسېدل.

دا چې افغانستان ته موټر کله راغی، جالبه کیسه لري، ۱۹۰۵ز کال و، چې امیر حبیب الله خان ته د هند د نایب‌السلطنه له خوا ډالۍ شوی لومړنی د «دیملر» په نوم موټر کابل ته د غوایانو په وسیله راولېږدول شو، چې د انګلستان له لوري هند او بیا له هغه ځایه افغانستان ته راوړل شو، د دې موټر د راوستلو لپاره یو انګریز موټرچلوونکی چې نوم یې (قنبل) و ګمارل شوی و، مګر له دې سره داسې هم ویل کېږي چې دا موټر له هند څخه غلام فاروق خان راوستی و چې وروسته د ظاهر شاه په پاچاهۍ کې د کورنیو چارو وزیر وټاکل شو، ویل کېږي چې غلام فاروق خان موټر چلونه په هند کې زده کړې وه او د افغانستان له لومړنیو موټرچلوونکو څخه و[1]. خو د ژوندون په مجله کې چې په (۱۳۵۰) کلونو کې چاپېدله د خواجه محمد په نوم له یو کس سره مرکه شوې ده، چې نوموړي په دې مرکه کې ځان د افغانستان لومړنی موټرچلوونکی ښودلی دی، چې په همغو وروستیو کلونو کې یې هم د موټرو عمومي باشي دنده پر مخ وړله.

د امیر حبیب‌الله خان دا موټر به چې له یو ځای نه بل ځای ته تګ کاوه خلک به یې لیدو ته راوتل، چې دا عجیب شی له نږدې وګوري.

کله چې د یوې سیمې خلک له نوي شي سره مخ شي، هرومرو له حیرانۍ سره مخ کېږي، په ( ۱۸۱۷ز کال کې یوه الماني مخترع (کارل وون ډرایس) بایسیکل ته ورته یوه وسیله جوړه کړه، خلک یې لیدو ته حیران وو او دا بایسیکل ډوله وسیله یې مصنوعي آس باله. دوی ځکه ورته دا نوم اخیسته چې تر دې وړاندې یې تګ پر آس او نورو حیواناتو لیدلی و. په افغانستان کې هم د موټر په راتلو خلک او مشران بېلابېلې کیسې او افسانې بیانوي، وایي ځینو خلکو د موټر په لیدو فکر کاوه چې دا شی به هم د آس او بل حیوان په څېر واښه خوري؛ مګر په دې موټر کې د ډیزلو او پیټرولو پر ځای لرګي او د ډبرو سکاره سوزېدل، له دې څخه چې کوم بخار تولیدېده، همدې بخار د موټر ماشین په حرکت راوستو او موټر تګ کاوه. د دې موټر څراغونه هم عجیبه وو، اوسني موټر چې په کوم ځای کې څراغونه لري، د امیر حبیب‌الله خان موټر په همدې ځای کې یو صندوکی درلود، چې په ځانګړې شیشې پوښل شوی و او ماښام به یې د چلولو پر مهال وړوکې دروازه ورپرانېسته او په ګوګړ به یې پکې ځای پر ځای شویو موادو ته اور ورته کاوه. ویل کېږي له دې څراغونو څخه چې کومه رڼا راوتله د اوسنیو موټرو له څراغونو تېزه وه.

دې موټر عجیبه اواز او ځانګړې هارن درلود، چې ټول خلک ورسره اشنا وو، کله به چې له کوم ځایه تېرېده، خلک به ورته د بامونو سرونو ته ختل او ویل به یې: «هله د امیر صاحب

---

۱- له پخواني پیلوټ مصطفی طائیر سره د یوې مرکې په ترځ کې ده زیاته کړه چې په خپله یې په یو مجلس کې له غلام فاروق خان څخه اورېدلي دي چې د حبیب‌الله خان لومړنی موټر ده له هندوستان څخه تر کابله راوستی و او دی د افغانستان لومړنی موټرچلوونکی دی.

غراضه راغله!»


په دې موټر کې د ناستې لپاره ځایونه معلوم او ځانګړي شوي وو، چې باید څوک پر کوم ځای کېني. شهزادګان به د موټر پر پایدانونو کېناستل، د کابینې غړي به په وروستني سیټ او تر دې لاندې کسان به په موټر پسې تر شا روان وو.

د دې موټر له راوستو سره د لارې او سړک فکر پیدا شو، ځکه موټر خو لارې او سړک ته اړتیا درلوده، نو له دې سره دستې د لار جوړونې یا راه‌سازۍ یو کنډک رامنځته شو او د سړکونو د جوړېدلو چارې پیل شوې.

په هغه وخت کې د سړک جوړولو اوسنی مواد او ماشین الات نه وو، لومړی به یې ځمکه د فیل په واسطه سختوله او بیا به یې پکې تیږې او ریګ اچول، په دې سره به دا لاره یا سړک تر سیمنټو هم سخت شو.

دا چې په نوره نړۍ کې ورځ تر بلې موټرو پراختیا موندله، نو امیرحبیب‌الله خان د ځینو حرفوي زده کړو لپاره ۹۳ کسان چې ۲٦ پکې د موټرچلونې لپاره ټاکل شوي وو، له هېواده بهر ولېږل.

ویل کېږي د امیر دا تاریخي موټر د حبیب‌الله خان کلکاني په واک ته رسېدو له ارګه وایستل شو، له څو ورځو ځغلولو او خرابولو وروسته د شاه‌دوشمشېره جومات مخ ته ولاړ وو چې واورو او بارانونو له کاره وایست، وروسته دغه موټر د دارلامان ماڼۍ څنګ ته راوړل شو، ویل کېږي چې د حفیظ الله امین او کورنۍ د وژلو په ورځ د روسانو له لورې د مېلمنو د موټرونو سره یو ځای و سوځول شو.



# د خوست هوايي ډګر به نړيوالو الوتنو ته چمتو شي

(مرکه)

د ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله په هره ګڼه کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت پر کړنو، لاسته راوړنو او راتلونکو پلانونو له يوه اړوند شخص سره مرکه لري، دا ځل مو د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له عملياتي مسئول ښاغلي کپتان غلام جيلاني "وفا " سره د هوايي چلند د ځينو پرمختګونو په تړاو لنډه مرکه کړې ده، چې تاسو يې لوستلو ته رابولو.



**پوښتنه:** محترم وفا صاحب د افغانستان نړيوال هوايي ډګرونه څومره معياري شوي دي او د افغان تخنيکي کارکوونکو په روزنه کې څومره پرمختګ شوی دی؟

**ځواب:** هوايي ډګرونه تر پخوا تقريباً ۷۰ سلنه معياري شوي دي؛ خو په کابل هوايي ډګر باندې ډېره پاملرنه ده چې همدا اوس ۹۰ سلنه معياري دی او مشهور نړيوال هوايي شرکتونه تري الوتني ترسره کوي، د تخنيکي کارکوونکو روزنه هم نږدې ۸۰ سلنه ترسره شوې ده.

**پوښتنه:** اوس په افغانستان کې څو کورني خصوصي هوايي شرکتونه موجود دي او د نورو فعاليت ته څومره زمينه برابره شوې ده؟

**ځواب:** اوسمهال دوه هوايي شرکتونه؛ کام اير او د آريانا افغان هوايي شرکت د افغانستان اسلامي امارت سره ثبت او راجستر دي د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت دوی ته په پوره ډول اسانتياوې چمتو کړې دي او فعلاً که بل هر شرکت غواړي په افغانستان کې خپل فعاليت پيل کړي، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت دې ته چمتو دی چې د اصولو او مقرراتو سره سم يې ملاتړ وکړي.

**پوښتنه:** په دې وروستيو کې د افغانستان د هوايي چلند په اړه ښه خبرونه موجود وو، نړيوالو وويل چې د افغانستان فضا ملکي عبوري الوتنو ته چمتو او د امنيت له پلوه خوندي ده، ويلی شی چې اوس د افغانستان له فضا څخه د کومو هېوادونو الوتکې تېرېږي او په ورځني ډول د ټولو شمېر څومره دی؟

**ځواب:** هو رښتيا ده، د افغانستان فضا الحمدلله د ټولې نړۍ ملکي عبوري الوتنو لپاره خلاصه ده همدا اوس د اروپا، امريکا، انګلستان، متحده عربي اماراتو، ترکيې او ډېرو

نورو هېوادونو الوتنې د افغانستان له فضا څخه تېرېږي چې په(۲۴)ساعتونو کې تر سلو الوتنو رسېږي او هره ورځ يې شمېر په زياتېدو دی.

**پوښتنه:** اوسمهال د افغانستان له هوايي ډگرونو څخه کومو هېوادونو ته الوتنې کېږي او په راتلونکې کې به کومو هېوادونو ته الوتنې ولرو؟

**ځواب:** اوس د کابل څخه پاکستان، کوېټ، چين، سعودي عربستان، ازبکستان، ترکيې، روسيې، ايران، متحده عربي امارات، هند او قطر هېوادونو ته الوتنې کېږي، د مزار شريف (جلال الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډگر) څخه ايران، سعودي عربستان او ترکيې ته، له کندهار (احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډگر) څخه د ايران، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو ته الوتنې ترسره کېږي.
په راتلونکې کې غواړو د تاجکستان، قطر او د پاکستان هېواد کراچۍ ښار ته الوتنې ولرو او ځينې نورې مشهورې کمپنۍ لکه ترکيش ايرلاين، ايرانډيا، پي آی اې او اير العربيه به هم الوتنې پيل کړي.

**پوښتنه:** د هوايي چلند له نړيوالو سازمانونو او کنوانسيونونو سره د افغانستان اړيکې څنگه دي او دې برخې ته څومره پاملرنه شوې؟


**ځواب:** د اسلامي امارت د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د اياتا او ايکاو نړيوالو سازمانونو سره پراخې اړيکې لري او په اونۍ کې يو ځل د الوتکو او هوايي ډگرونو د حالاتو په اړوند د هغوی سره پرليکه ( انلاين ) غونډې او مشورې تر سره کېږي او په دې برخه کې پوره دوه اړخيزې همکارۍ موجودې دي.

**پوښتنه:** د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تر چتر لاندې د هوايي ډگرونو شمېر څومره دی، څو يې نړيوال هوايي ډگرونه دي او په راتلونکې کې د نورو نړيوال کېدو کوم پلان هم شته؟

**ځواب:** اوس مهال (۲۷) ملکي هوايي ډگرونه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ترچتر لاندې فعاليت کوي، چې څلور يې نړيوال هوايي ډگرونه دي او د خوست هوايي ډگر به هم د نړيوالو الوتنو لپاره چمتو شي. پاتې نورهوايي ډگرونه د کورنيو الوتنو لپاره کارول کېږي.

## د ناسا تر غږ چټکه الوتکه

ناسا غواړي داسې يوه الوتکه جوړه او نړۍ ته وړاندې کړي چې تر غږ هم چټکه وي، چې دا به په هوايي ټرانسپورټ کې يو نوی پړاو رامنځته کړي. ناسا څو مياشتې وړاندې اعلان وکړ چې ايکس ۵۹ سوپرسونيک (Supersonic) الوتکه يې چمتو ده، خو د لوړ غږ پر کمولو يې کار روان دی، اوس يې غږ دومره تېز دی چې پر يوه ښار تېرېږي، خلک به فکر کوي چې کومه چاودنه رامنځته شوه. پر دې الوتکه په ځمکه کې څو ازموينې شوې دي، چې د ناسا په وينا ټولې بريالۍ وې او وايي چې الوتکه الوت ته نږدې شوې ده. د دې الوتکې پروژه په ۲۰۱۶ز کال کې پيل شوه، دا الوتکه به ۱۵۰۸ کيلو متره مزل په يو ساعت کې د ۱۶۷۶۵ مترو په لوړوالي سره کوي او سرعت به يې د اوسنيو جټ الوتکو څخه ډېر وي او له کبله به يې هوايي سفرونه په بې ساري ډول رالنډ کړای شي.



# نقش استراتژیک راه لاجورد در توسعه و پایداری اقتصاد افغانستان و منطقه




## چکیده


کوهستانی و محاط به خشکه بودن و هم‌چنان وابستگی ترانزیتی چالش‌های است که افغانستان را وا داشت تا در پی ایجاد راه جدید جهت فایق آمدن به چالش‌های ترانزیتی و تجارتی بر آید.
این امر باعث شدکه افغانستان طرح راه لاجورد که کشور را از طریق ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان به دریای سیاه و بعد با عبور از ترکیه به آب‌های آزاد وصل می‌کند، پیشنهاد نماید.
این طرح افغانستان با توجه به ظرفیت‌های تاریخی در امر ترانزیت و موقعیت جغرافیایی که داشت مورد استقبال کشورهای ذیدخل قرار گرفت. افغانستان با افتتاح و بهره‌برداری از این پروژه حیاتی محراق تبادل کالاهای تجارتی شده و کشورهای عضو آن همکاری‌های خویش را در سطوح ملی و بین‌المللی آغاز نمودند. طرح و عملی شدن پروژه راه لاجورد مالکیت افغان‌ها بوده و می‌توان از آن بیشتر بهره برد. بنابراین، افغانستان یکی از مهم‌ترین بازیگران منطقه‌ای در امر ترانزیت کالا و تبادل تمدن، دانش و فرهنگ‌ها عرض اندام نموده و نقش مرکزی و تاریخی خود را به عنوان تلاقی فرهنگ‌ها ایفا و از این منظر منافع کلان اقتصادی را نصیب خواهد شد. در صورتیکه این طرح

مطابق به مفادات توافقنامه عملی گردد تمام کشورهای که در این مسیر قرار دارند از لحاظ اقتصادی رشد سریع نموده و بزودی به شاخص‌های توسعه پایدار دست خواهند یافت.

## ۱- مقدمه

افغانستان کشوری است کوهستانی که در قلب قاره آسیا موقعیت دارد و محاط به خشکه می‌باشد. این کشور از نظر جغرافیایی در نیم کره شمالی، نیم کره شرقی و در محدوده آسیای میانه موقعیت داشته، به سه منطقه کاملاً متمایز ازیک دیگر دسته بندی شده که کوه‌های مرتفع و لا مزروع در مرکز، دشت‌های زارع و قابل استفاده در شمال، جنوب و جنوب شرق و فلات جنوب غربی آن بیشتر بیابانی و خشک اند (Britannica, 2014). افغانستان در دوران باستانی، کانون اصلی جاده ابریشم بوده که مناظر طبیعی و زیبایی‌های این کشور توجه گردشگران، مهاجران و تجارت پیشه ها را به خود جلب می‌نمود. یافته‌های باستان شناسان نشان می‌دهد که در این کشور، انسان‌ها تا بیش از ۵۰ هزار سال قبل از میلاد مسیح زندگی داشته که تمدن‌های آن در طول مسیرهای کابل - بامیان، در دره غوربند، دره شکاری، بلوله، کابل– جلال‌آباد ،کابل- هرات، کابل- بلخ و در اکثر نقاط افغانستان می‌توان بقایای آن را مشاهده کرد.

حمل و نقل و ارتباطات در حال حاضر از مباحث کلیدی در معاملات تجاری ملی و بین‌المللی محسوب می‌شود. رونق استفاده از ابزار و تجهیزات عصری حمل و نقل در ارتباطات تجارتی میان انسان‌ها بسیار موثر بوده و نقش فوق‌العاده در توسعه زیربناها دارد. موقعیت جغرافیایی کشورها نقش موثر در توسعه تجارت خارجی داشته که افغانستان از این منظر تاثیرات عمده‌ای در ترانزیت امتعه و کالاها در ادوار مختلف تاریخی از مسیرهای راه مروارید، راه شاهی و جاده ابریشم داشته اند. این مسیرها به علاوه مبادله کالاهای تجارتی بین دول‌ها، رول عمده را در تبادل دانش و فرهنگ میان تمدن‌های شرق و غرب بازی نموده اند. از آن‌جایکه افغانستان دارای موقعیت خاص استراتژیک بوده و در چهار راه گذرگاه‌های شرق و غرب، شمال و جنوب دنیا در امر ترانزیت کالا می‌باشد، و هم‌چنان نیازمندی‌ها و دست‌رسی کشورهای آسیای میانه به شبه قاره هند باعث ایجاد یک مسیر کوتاه، کم هزینه و مطمئین ترانزیتی دیگر می‌شود.

موجودیت مشکلات و چالش‌ها افغانستان را گریبان‌گیر فقر نموده و نسبت به سایر کشورها از کاروان سازندگی عقب مانده است. در کنار این مردم این سرزمین از خشک سالی‌ها، عدم توجه کافی به ساخت و ساز زیربناها، عدم دست‌رسی به آب‌های آزاد، مشکلات در مسیر بحر هند و وابستگی به کشورهای همسایه افغانستان را به مشکلات روبرو ساخت. از سوی، کوهستانی و محصور به خشکه بودن این کشور چالش دیگری است که باید تلاش صورت گیرد تا راه‌های ترانزیتی جدیدی برای حل این مشکلات و ارتباط با کشورهای صنعتی و جامعه جهانی پیدا کند. با توجه به مشکلات فوق، اداره قبلی ابتکار طرح "راه لاجورد" را روی دست گرفت و برای اولین بار

در ۱۵ نوامبر ۲۰۱۵م از طرف افغانستان مطرح و در سال ۲۰۱۷م توافقنامه آن توسط وزیران خارجه کشورهای ذیدخل (افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان و ترکیه) در هفتمین کنفرانس ریکا (RECCA) منعقد عشق‌آباد در پایتخت ترکمنستان به امضاء رسید. این بندر حیاتی در ۱۳ دسامبر ۲۰۱۸م با شعار "ما مردم وصل هستیم" توسط حکومت وقت با حضور داشت نمایندگان کشورهای ذیدخل افتتاح و اولین کاروان انتقالاتی از تولیدات داخلی افغانستان به مقصد ترکیه و بعد از آن به اروپا حرکت داده شد. راه ترانزیتی لاجورد تولیدات داخلی افغانستان را از دو بندر تجارتی آقینه در فاریاب و تورغوندی در هرات از مسیر ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان به دریای سیاه و بعد با عبور از ترکیه به آب‌ها آزاد و اروپا می‌رساند. این مسیر قدامت تاریخی دو هزار ساله داشته و بخشی مهمی راه ابریشم است که سنگ‌های قیمتی و لاجورد نایاب بدخشان افغانستان از این مسیر به کشورهای آسیای میانه و اروپا صادر می‌شد (Christin, 2013; Kuchins et al., 2010).

با توجه به ضرورت مبرم جامعه در رابطه به رشد اقتصادی و اهمیت فزاینده بنادر و راه‌های ترانزیتی در پایداری اقتصاد کشور، لازم است که مجموعه عوامل مؤثر بر ساخت و ساز و استفاده از منابع به وضوح شناسایی شوند تا به موجب آن بتوان سیاست‌گذاری جامع برای توسعه راه‌های ترانزیتی و اقتصادی کشور تدوین نمود. استفاده از بنادر و راه ترانزیتی مانند راه لاجورد، جاده ابریشم، شاهراه واخان – چین، بندر چابهار، دهلیزهای جدید حمل و نقل بین‌المللی چند وجهی (بلاروس – روسیه – قزاقستان – اوزبیکستان – افغانستان – پاکستان) و دهلیز ترانسپورتی – ترانزیتی ( افغانستان – تاجیکستان – چین) که بحث روی چگونگی ایجاد آن میان طرفین جریان دارد، دهلیزهای هوایی و سیستم منظم ترانسپورتی داخلی و بین‌المللی از مهم‌ترین مجاری دست یافتن به رشد اقتصاد کشور در برنامه ریزی‌های میان مدت و بلند مدت یک کشور محسوب گردیده و حتا بهره‌وری از این منابع به عنوان عامل ایجاد ثروت واقعی تلقی می‌شود. خلص کلام اینکه؛ احیای راه لاجورد یکی از مهم‌ترین دست‌آوردهای افغانستان بوده که می‌تواند نقش مهمی در جلب و جذب توریزم، انکشاف زیربناها، عدم وابستگی افغانستان به کشورهای همسایه و در نهایت باعث پایداری اقتصاد کشور خواهد شد. در واقع رسیدن به توسعه پایدار نیازمند دورنما در ابعاد مختلف و در سطح مختلف منطقه‌ای، ملی و بین‌المللی و قرار دادن آن در پلان‌های میان مدت و دراز مدت امور کشور است.

## ۲- جایگاه تاریخی افغانستان از منظر موقعیت ترانزیتی

آن‌طوریکه در فوق تذکر داده شد، افغانستان از جمله کشورهای است که به عنوان پُل ارتباطی میان مراکز تمدن‌ها و فرهنگ‌های چین، هند، بین‌النهرین، سواحل شرقی بحیره مدیترانه، مصر، یونان قدیم و روم باستان نقش حیاتی را در رونق تجارت، آشنایی و تبادل فرهنگ‌ها بازی کرده

است (Collins, 2014). این اهمیت استراتژیک بود که محققان اصطلاح چهار راه تلاقی فرهنگ‌ها و مدنیت‌ها را بر این کشور اطلاق و نخستین مرکز سیاسی و فرهنگی افغانستان که در بلخ باستان موقعیت داشت به لقب جوهر شرق نامید. افغانستان با قدامت تاریخی که دارد پنج دوره تمدنی و فرهنگی را که عبارت از دوره تمدن ویدی، تمدن اوستایی، تمدن یونان و باختری، تمدن یونان و بودایی و تمدن اسلامی را شاهد بوده و نقش مهم را در تبادل این تمدن‌ها و فرهنگ‌ها بازی کرده است (Thier & Chopra, 2002) که از آن جمله می‌توان به شاخه‌ها، شعب و مسیر اصلی جاده ابریشم در افغانستان اشاره نمودکه در قرن دوم قبل از میلاد به اثر تلاش امپراطوری غربی جهت وصل شرق به غرب به وجود آمده بود (Barratt, 2012; Hansen, 2012; Liu, 2010). هم‌چنان قبل از احداث جاده ابریشم، مسیرهای انتقالاتی قدیمی در آسیا موجود بود که از طریق آن مراودات تجارتی با کشورهای آن وقت تامین می‌شد، یکی از این راه‌ها، جاده شاهی بود که از بابل آغاز و با گذر از تنگ‌نای زاگروس به کرمان‌شاه رسیده و از آن‌جا به ری میرفت و در امتداد جنوبی آن به بلخ امروزی می انجامید.

## ۳- اهمیت ملی و بین‌المللی راه لاجورد

در سال‌های اخیر تلاش صورت گرفت تا وابستگی‌های ترانزیتی افغانستان را نسبت به کشور های همسایه کاهش داده و پلان‌های عملیاتی را جهت دست‌یابی به مارکیت‌های رو به رشد هند و چین و هم‌چنان بازاریابی تولیدات داخلی افغانستان در اروپا و آسیا طرح و عملی شود. طرح‌های افغانستان مورد استقبال کشورهای منطقه قرار گرفت که نمونه‌های بارز آن افتتاح بندر چابهار، احیای راه ابریشم و سرمایه‌گذاری روی شاخه و شعب این جاده، تلاش برای فعال سازی دهلیزهای حمل و نقل بین‌المللی چند وجهی و دهلیز سه جانبه (افغانستان - تاجیکستان - چین ) و بهره برداری از دهلیزهای هوای و افتتاح راه لاجورد می‌باشد.

افتتاح راه لاجورد وابستگی‌های ترانزیتی افغانستان را کاهش داد و زمینه حمل و نقل اموال تجارتی از این مسیر توسط سرک و خط‌آهن مناسب‌ترین راه تجارتی میان افغانستان، آسیای میانه، قفقاز، بالکان و اروپای مرکزی بوجود آمد. این امر باعث شد که شعار"ما مردم وصل هستیم" با وصل آسیای جنوبی با کشورهای اروپایی از طریق افغانستان تحقق یابد. این مسیر بدلایل ارزان، مصؤن وکوتاه بودن جهت رسیدن به کشورهای اروپای برای افغانستان از اهمیت ویژه برخوردار است. افغانستان با افتتاح و بهره‌برداری از این پروژه حیاتی محراق تبادل کالاهای تجارتی گردیده و کشورهای عضو آن همکاری و کمک‌های خویش را به منظور رشد، ثبات و توسعه پایدار کشورهای شان در سطوح ملی و بین‌المللی انجام می دهند. بنا براین، افغانستان یکی از مهم‌ترین بازیگران منطقه‌ای در امر ترانزیت کالا و تبادل دانش و فرهنگ‌ها عرض اندام نموده و نقش مرکزی و تاریخی خود را به عنوان تلاقی فرهنگ‌ها ایفا و از این منظر منافع کلان اقتصادی را نصیب می‌شود.

## ٤- فرصت‌های بوجود آمده از ایجاد راه لاجورد

با ایجاد راه لاجورد افغانستان فرصت‌های را بدست‌آورد که در طول عمر سیاسی و اقتصادی این کشور بی نظیر است. افغانستان با دیپلوماسی فعال اقتصادی منطقوی و مبتکر ایجاد راه لاجورد می‌تواند از مزایای آن استفاده بیشتر نموده و جهت همگرایی اقتصادی در منطقه یک دست‌آورد مهم در سطح ملی و بین‌المللی تلقی گردد. در صورت مدیریت فرصت‌های بوجود آمده از این منظر افغانستان می‌تواند سیر صعودی رشد اقتصاد خویش را شاهد بوده و به شاخص‌های توسعه پایدار برسد. این فرصت‌ها عبارتند از:

١- تا نزدیک به دو دهه قبل افغانستان وابستگی ترانزیتی به پاکستان و ایران داشت. به علاوه هزینه بر بودن این مسیرها در امر انتقال اموال تجارتی مصؤنیت لازم را نداشت. این مسیرها در بعضی مواقع دست خوش محدودیت‌های می‌شد که زیان آن را افغانستان بصورت آشکار پرداخت می‌نمود. راه لاجورد این وابستگی را کاهش داده و هزینه انتقال اموال تجارتی را به نصف رسانده است. چون این مسیر از افغانستان شروع تا بندر ترکمن باشی ترکمنستان و نیز از باکوی آذربایجان تا ترکیه جاده‌های خط‌آهن وجود دارد.

٢- افغانستان یک کشور باستانی و کوهستانی دارای مناظر بکر طبیعی و تمدن‌های باستانی می باشد. از آن‌جایکه صنعت توریزم کم هزینه و پرمنفعت‌ترین صنعت در دنیا امروز محسوب می‌شود؛ ایجاد راه لاجورد زمینه خوبی برای انکشاف صنعت توریزم در افغانستان می‌باشد.

٣- بر اساس توافقنامه راه لاجورد هیچ یک از کشورهای که در این مسیر قرار دارند بالای امتعه و اموال افغانستان هیچ نوع تعرفه گمرکی ومحدودیت وضع نمی‌کند، و در صورت ترانزیت، لاری‌های افغانستان می‌تواند برای بارگیری و یا تخلیه اموال تجارتی بدون موانع گمرکی داخل هریک از این کشورها گردد.

٤- از سال‌های سال به این طرف کشورهای آسیای میانه و تاز جداه شده از بدنه شوروی سابق با داشتن منابع سرشار طبیعی و انرژی در پی تصاحب بازارهای آسیای جنوبی بود. راه لاجورد فرصت بزرگی را برای این کشورها ایجاد کرده اند تا بتواند انرژی و منابع طبیعی خویش را بصورت مصؤن و کم هزینه به جنوب آسیا انتقال دهد .

٥- بهره‌برداری از راه لاجورد باعث خواهد شد که تجارت درسطح ملی و بین‌المللی کشور های این مسیر میان آسیا و اروپا رونق گرفته و باعث رشد اقتصادی آن‌ها شود.

٦- ایجاد راه لاجورد زمینه سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی را در افغانستان تسریع بخشیده و باعث اشتراک منافع میان متشبثین و سرمایه‌گذار های افغانستان وکشورهای منطقه به وجود می آورد؛ این اشتراک منافع می‌تواند در قسمت اجماع، همگرایی، همکاری و هم‌سوی‌های اقتصادی و سیاسی مفید واقع شود.

## ٦- پیشنهادات

١- سیستم حمل و نقل جاده‌ای و ریلی در کشور پاسخ‌گوی نیاز نبوده باید،بخش‌های آن باز سازی و یا نو سازی گردد؛

٢- به نگرانی‌های شرکای منطقه‌ای این مسیررسیدگی گردد؛

٣- جهت شناسایی فرصت‌ها و چالش‌های راه لاجورد باید تحقیق‌های میدانی انجام شود؛

٤- برنامه‌های آگاهی دهی در مورد تبادل فرهنگ‌ها، مزیت‌های اقتصادی و اهمیت بنادر و راه لاجورد داده شود؛

٥- موافقتنامه‌های ترانسپورتی – ترانزیتی دوجانبه با کشورهای آذربایجان و جورجیا امضاء گردد؛

## ٧- نتیجه گیری

افغانستان با توجه به اهمیت تاریخی در امر ترانزیت کالا و تبادل تمدن و فرهنگ‌های مختلف از مسیر جاده ابریشم و مطرح کننده‌ای طرح راه لاجورد می‌تواند از مزیت‌های آن در جهت رفع مشکلات ترانزیتی خود بهره ببرد. نتایج تحقیق حاکی از آن است که راه لاجورد کوتاه، مصؤن و کم هزینه بوده و مسیر مطمئین و قابل دسترس به بحیره کسپین شمرده می‌شود. همکاری‌های منطقه ای و ترانزیتی که از بوجود آمدن راه لاجورد میان کشورهای افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان و ترکیه بوجود آمده دارای مزیت‌های فراوان می‌باشد. راه لاجورد باعث می‌گردد که افغانستان وابستگی ترانزیتی خویش را کاهش داده و کشورهای ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان نیز از وابستگی به روسیه نجات یابند. راه لاجورد مشوق سرمایه‌گذاری‌های کلان در بخش زیربنا و سیستم منظم حمل ونقل گردیده و در انکشاف صنعت توریزم موثر می‌باشد. کشورهای اروپایی و چین به راه لاجورد افغانستان اهمیت قایل می‌باشد؛ چون دسترسی این کشورها را به منابع انرژی و ذخایر طبیعی کشورهای آسیای میانه آسان می‌سازد.

**به باور ترتیب دهنده**؛ اگر این طرح بصورت عملی و مطابق توافقنامه آن اجرا و کشورهای منطقه و شامل طرح بتواند تمام مواد مندرج این توافقنامه را بصورت درست تطبیق نماید؛ آن‌گاه این مسیر به یکی از راه‌های اصلی تجارت میان کشورهای آسیای مرکزی، آسیای جنوبی و اروپا تبدیل خواهد شد. با بهره‌برداری این پروژه افغانستان یکی از مهم ترین بازیگران منطقه‌ای در امر ترانزیت کالا و تبادل دانش و فرهنگ‌ها عرض اندام نموده و نقش مرکزی و تاریخی خود را به عنوان تلاقی فرهنگ‌ها ایفا و از این منظر منافع کلان اقتصادی را نصیب خواهد شد. زمانیکه این امر تحقق یابد، بدیهی است کشورهای که در این مسیر قرار داشته از لحاظ اقتصادی رشد نموده و به شاخص‌های توسعه پایدار دست می‌یابد.

علی "فرزام"

مدیر عمومی کریدورهای ترانسپورتی


# حقیقي خوښي

یوه ورځ یو استاد او شاګرد د پوهنتون نه بهر په چکر ووتل، یو غریب بزګر یې ولید، چې په خپله کرونده کې پښې یبلی او په خولو لوند په کار لګیا دی.
شاګرد چې له شتمنې کورنۍ څخه و، استاد ته وویل: راځه نن لږ سات تېر کړو، زه به له دې بزګر څخه بوټونه پټ کړم، چېرته به ورته پټ شو، چې دی څه کوي؟
استاد ورته وویل: که سات تېروې او زړه ته سکون ورکوې؛ نو داسې وکړه، چې د بزګر په بوټونو کې یوه یوه د سرو زرو سکه واچوه، بیا به ورته پټ شو چې دی څه کوي.
شاګرد یې خبره ومنله، ورغی د بزګر په دواړو بوټونو کې یې یوه یوه سکه واچوله. بزګر چې کله کار بس کړ، د بوټونو خوا ته ورغی، چې یو بوټ یې پښو کړ، واپس یې وویست، ټک یې واهه، ګوري چې پر ځمکه ترې دسرو زرو یوه سکه وغورځیده. بزګر سکه راپورته کړه، په لاس کې یې واړوله راواړوله، سترګو ته یې نږدې کړه، بیا یې یو خوا بل خوا وکتل او سکه یې جیب ته واچوله.
د بزګر حیرانتیا او خوښي هغه وخت یو په دوه شوه، چې بل بوټ یې پښو کاوه. له هغه یې هم سکه راپورته کړه، جیب ته یې واچوله بیل یې واغورځاوه او لاسونه یې د الله جل‌جلاله دربار ته پورته کړل، تر ډېره ولاړ و، اسمان ته یې کتل او شونډې یې خوځېدې. استاد چې خپل شاګر ته وکتل، په سترګو کې یې اوښکې ډنډ وې. ورو یې ترې وپوښتل: ایا په مخکیني کار به ډېر خوښ شوی وای او که اوس ډېر خوښ یې؟ شاګرد وویل: استاده! نن مې داسې سبق زده کړ، چې په ټول عمر به یې هېر نه کړم، نن زه په دې هم پوه شوم چې ورکوونکی لاس همېشه د اخیستونکي لاس نه غوره دی او خوښي په دې کې ده چې په سخته ورځ کې له یو چا سره لاس یوسو. استاد ورته وویل: که په ژوند کې حقیقي خوښي غواړې؛ نو د نورو سره مرسته کوه!



# پر غږ او ګړدود د هوا دفشار اغیز

د انجنیر محمد کریم مشاهد د دري مقالې پښتو ژباړه



د هوا فشار د هوا عمودي وزن څخه عبارت دی چې لوړوالی یې د ځمکې له سطحې څخه پیل او د ګازاتو تر اخري لوړوالي پورې چې د جاذبې قوې په وسیله جذبېږي، رسېږي. د سمندر په یو سانتي مربع سطحه کې چې د تودوخې درجه یې صفر سانتي ګرېډ وي، یو کیلوګرام فشار واردېږي او که د سمندر له سطحې هر څومره پورته حرکت کوو، په هماغه اندازه د هوا په وزن باندې د هوا فشار کمېږي. د بېلګې په ډول د کابل په ښار کې د هوا منځنی فشار ۸۲ ملي بار دی او د سمندر له سطحې څخه د کابل ښار لوړوالی ۱۷۹۷ متره دی؛ که چېرې له کابل څخه د سالنګ په لور حرکت کوو، هر څومره چې سالنګ ته نږدې کېږو، په هماغه اندازه زموږ په بدن باندې د هوا فشار کمېږي او برعکس د سمندر له سطحې زموږ لوړوالی زیاتېږي او د سالنګ تونل په خوا کې چې د سمندر له سطحې یې لوړوالی تر ۳۳۳٦ مترو پورې دی، فشار د ٦۰۰ او ۷۰۰ ملي بار تر منځ دی.

په بل عبارت ویلی شو چې په کابل ښار کې د انسان بدن د ۱۵ تر ٦۰ متر مربع په مساحت کې ۷۳۰ کیلو ګرامه د هوا فشار لري او په سالنګ کې ٦۳۰ کیلوګرامه، چې د کابل په پرتله ۹۰ کیلو ګرامه کم دی. د هوا همدا ۹۰ کیلو ګرامه فشار د دې لامل کېږي چې په کابل او سالنګ کې د اوسېدونکو خلکو ترمنځ په ګړدود (لهجه)، تلفظ او د تورو په ادا کولو کې توپیر څرګند شي.

دا چې په سالنګ کې د هوا فشار کم دی، کله چې هلته یو کس خبرې کوي، باید په لوړ غږ وغږېږي، تر څو په هوا کې څپه یا موج جوړ شي او د ده غږ د اورېدونکي تر غوږه ورسېږي. د دې برعکس په کابل کې بیا په متوسط یا منځني غږ خبرې کېږي؛ ځکه چې په کابل کې د هوا فشار له سالنګ څخه زیات دی. همدارنګه هغه خلک چې په هرات کې ژوند کوي، په ټیټ غږ غږېږي؛ ځکه چې د هوا فشار د کابل په پرتله په هرات کې زیات او په خورا لږ فشار د حنجرې، ژبې او غاښونو په واسطه په هوا کې د غږ څپې جوړېږي او اورېدونکی په اسانۍ سره مکالمه اورېدلی شي.

همدارنګه د یوې ژبې د ګړدود په تغیر یا بدلون کې د تودوخې درجه هم مهم رول لري او د تودوخې

درجه د هوا د فشار په بدلون سره يو ځانګړی اهميت لري، دا دواړه لاملونه په يوه ژبه کې د ګړدود د بدلون لامل کېږي. د بيلګې په ډول: ساساني قومونه چې د غزنوي پاچاهانو د بنسټګر الپتګين او سلطان محمود غزنوي په زمانه کې غزني ته راغلل، او بيا د ځينو لاملونو له کبله د غزني د رامک، د غزني ښار د لوګر په څرخ، ګردېز او د لوګر نه تر کابل سيمو پورې د سيند دواړو خواوو ته ځای پر ځای شول، دا چې غزني د سمندر له کچې ۲۱۸۰ متره او ګردېز ۲۲۹۸ متره لوړوالی لري، په همدې دليل د دې ژبې د کلماتو تلفظ او ګړدود لږ تر لږه سره نږدې دی؛ خو د لوګر سيند دواړو لوريو ته چې ۱۹۰۰ متره د سمندر له کچې لوړ دی، په همدې اساس دري ژبه د ګړدود او د کلماتو تلفظ د غزني او ګردېز خلکو په پرتله په لوګر کې توپير سره کوي.




د کندهار ښار لوړوالی د سمندر له سطحې څخه ۱۰۰۰ متره او جلال اباد ۵۷۲ متره دی، په همدې دليل د کندهار او جلال اباد د پښتو ژبې د کلمو ګړدود توپير سره کوي او په همدې ترتيب د پکتيا د غرونو لوړوالی د کندهار او جلال اباد په پرتله زيات دی؛ ځکه خو د پکتيا ګړدود او غږېدا د کندهار او جلال اباد په پرتله توپير لري.

ځينې خلک په دې باور دي هغه کسان چې په لوړ غږ خبرې کوي، پر ټولنيزو نزاکتونو نه پوهېږي؛ مګر په حقيقت کې دا باور او فکر سم نه دی، چاپېريال او د هوا فشار د دې لامل کېږي چې انسان په لوړ اواز خبرې وکړي او مخاطب په پوره جديت له خپلې موخې او هدف څخه خبر کړي.

# فعالیت ها و دست‌آوردها/ کړنې او لاسته‌راوړنې

**ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۲ل کال په دویمه ربع کې چې کومې کړنې، لاسته راوړنې او همدارنګه کورني او بهرني سفرونه ترسره کړي دي، ځینې یې دلته په لنډ ډول لوستلی شئ!**

- استانبول ښار ته الوتنې پیل شوې
- د کندوز هوايي ډګر د هواپېژندنې سټېشن بیا فعال او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو
- د ولایتونو تر منځ د باروړونکو لاریو د رونډ نوبت پرانېسته وشوه
- د احمد شاه بابا نړیوال هوايي ډګر د اطفايې ټیم لخوا د اورلګیدنې پېښه مهار شوه
- د ریاست الوزراء لوړ مقام له خوا د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزرات ته ستاینلیک ورکړل شو
- د کابل - شانګهای تر منځ د هوايي دهلېز پرانېسته وشوه
- مسافروړونکي موټر د بار وړلو اجازه نلري
- ولایتي کارکوونکو ته په مالي، حسابي او اداري برخو کې څلور ورځنی سمینار وړاندې شو
- په کابل نړیوال هوايي ډګر کې د خیبر څلورلارې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه
- په کابل نړیوال هوايي ډګر کې د جومات بنسټ ډبره کېښودل شوه
- د کابل نړیوال هوايي ډګر عمومي دروازه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه
- په ټرانزیټي موټرو کې د جي پي اېس سیسټم نصب په پار ناسته وشوه
- د افغانستان، ازبکستان او متحده عرب اماراتو تر منځ درې اړخیزه ناسته ترسره شوه
- په ترمینلونو کې د مسافروړونکو موټرو تخنیکي ارزونه
- د کابل ښاري موټرو سپرلیو سرشمېرنه وشوه
- د ټرانسپورټ او ټرانزیټ ورځ ولمانځل شوه
- کډوال به په وړیا او خوندي ډول خپلو سیمو ته لېږدول کېږي
- د فلای دوبۍ الوتنې بیا پیل شوې
- **هده‌ها و ترمینل‌ها**
- **په څو ولایتونو کې د اداري ودانیو بنسټ ډبره کېښودل شوه**
- **کورني سفرونه**
- **بهرني سفرونه**



## استانبول ښار ته الوتنې پیل شوې

د مولانا جلال‌الدین محمد بلخي(مزار شریف) له نړیوال هوایي ډګر څخه د ترکیې هېواد استانبول ښار ته الوتنې پیل شوې، دا الوتنې د اوس لپاره د کام ایر هوایي شرکت له خوا په اونۍ کې یو ځل د سه‌شنبې په ورځ ترسره کېږي چې لومړنۍ الوتنه یې د ۱۴۰۲ل کال د چنګاښ په اوه‌ویشتمه نېټه ترسره شوه.

## د کندوز هوایي ډګر د هواپېژندنې سټېشن بیا فعال او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د کندوز هوایي ډګر د هواپېژندنې سټېشن، چې د تېرې اداري په وخت کې له کاره لوېدلی و، د هواپېژندنې د تخنیکي او مسلکي ټیم د هلو ځلو په پایله کې بیا فعال او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

## د ولایتونو تر منځ د باروړونکو لاریو د روښ نوبت پرانیسته وشوه



د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري او ور سره مل پلاوي په هرات ولایت کې د ولایتونو تر منځ باروړونکو لاریو د روښ نوبت پرانیسته وکړه. په دې پرانیستغونډه کې چې د یاد وزارت چارواکو تر څنګ د هرات ولایت والي او باروړونکو لاریو مالکانو هم برخه درلوده، د ولایتونو تر منځ د نوبت طرحې اړوند معلومات وړاندې شول او د سوداګریزو توکو په خوندي او پر وخت رسېدنه ټینګار وشو.

د باروړونکو لاریو تر منځ نوبت د ۱۱/٦/۱۴۰۲ د شنبې په ورځ په رسمي ډول د هرات ولایت څخه پیل شو چې د هېواد سوداګر به د دې طرحې سره سم خپل توکي په نوبت سره د ځمکني ټرانسپورټ له لارې د هېواد د ننه ولایتونو ته لېږدوي.

## د احمد شاه بابا نړیوال هوایي ډګر د اطفایې ټیم له خوا د اورلګېدنې پېښه مهار شوه

څه موده وړاندې د کندهار ولایت په عمومي تېل پلورنځي کې د اورلګېدنې پېښه رامنځته شوې وه، د یاد هوایي ډګر د اطفایې ټیم پر وخت سیمې ته ورسېد، اور یې مهار او د لا زیات زیان د اوړېدو څخه مخنیوی وشو.

## د ریاست الوزراء لوړ مقام له خوا د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ته ستاینلیک ورکړل شو

د ریاست الوزراء لوړ مقام له خوا د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ته "ملت ته د دولت حساب ورکولو پروګرام" کې د فعال ګډون او ملت ته په پوره بریالیتوب سره د حساب ورکولو په ویاړ ستاینلیک ورکړل شو او د یاد وزارت چارې وستایل شوې.


ستاینلیک/تقدیرنامه

## د کابل - شانګهای تر منځ د هوايي دهلېز پرانیسته وشوه



په کابل نړیوال هوايي ډګر کې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د سوداګرۍ او صنعت خونې استازو برخه درلوده د کابل- شانګهای تر منځ د هوايي دهلېز پرانیسته وشوه. د یاد هوايي دهلېز له لارې به د اریانا افغان او کام ایر هوايي شرکتونو له لورې د چين هېواد شانګهای ښار ته د زنغوزيو صادرات پيل او له دې لارې بـه د هېـواد سـوداګریـزه پـراختيا رامنځته او کورني توکي به په نړيوال بازار کې د افغانستان په نوم پلورل کېږي.

## مسافروړونکي موټر د بار وړلو اجازه نلري



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تخنيکي خدمتونو خونديتوب رياست د تخنيکي انجنیرانو له لورې د مسافرو خونديتوب او مسافر وړونکو موټرو د معياري خدمتونو وړاندې کولو په پار د کابل په ټولو ترمينلونو کې مسافروړونکو موټرچلوونکو ته لارښوونه وشوه، چې د موټرو د ننه او د موټر په چت باندې د بارونو له لېږد څخه ډډه وکړي. همدا راز د کابل ښار پـه کمپنۍ او پایتخت ترمينل کې د مسافروړونکو موټرو د چک او کنټرول پروسې په بهير کې د ځينو مسافروړونکو بسونو څخه اضافي او غير معياري چوکۍ هم لرې کړای شوې.

## ولايتي کارکوونکو ته په مالي، حسابي او اداري برخو کې څلور ورځنۍ سمينار وړاندې شو

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د بشري سرچينـو رياست د ظرفيت لوړونـې آمريت له خـوا ولايتـي کارکوونکـو تـه څلـور ورځنـۍ سمينار وړاندې شو. په دې سمينار کې د ولايتونو کارکوونکو ته په مالي، اداري او حسابي برخو کې ګټور معلومات وړاندې شول، د سمينار په وروستۍ غونـډه کـې چـې د ټـرانسپـورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست **الحاج ملا حميدالله اخندزاده** او د دې وزارت معينانو هم برخه اخيستې وه، ښاغلي وزير د سمينار ګډونوالو ته په خپلو خبرو کې وويل: «يو کس کـه هـر څـومره وړتيا ولري خو بايد په نوښتونو باور ولري او هغه څه

چې سبا ورته اړتیا پېښېږي، باید نن یې زده کړي او هغو کسانو چې دلته یې په سمینار کې برخه درلوده، باید زده کړي معلومات په پوره صداقت سره په ولایاتو کې له خپلو همکارانو سره شریک کړي.» د سمینار په پای کې د وزارت مقام له خوا هغو کسانو چې دا سمینار یې جوړ کړی او وړاندې کړی و، په ستاینلیکونو ونازول. هېره دې نه وي چې ولایتي کارکوونکو ته له دې وړاندې هم دې ته ورته روزنیز سمینارونه وړاندې شوي، چې پایلې یې ګټورې تمامې شوې دي.

## په کابل نړیوال هوایي ډګر کې د خیبر څلورلارې پرانیسته وشوه




د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د کورنیو چارو معین مولوي نورجلال، د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت معین حافظ صدیق‌الله عابد، د حج او اوقافو وزارت سرپرست شیخ نورمحمد ثاقب په ګډون د کابل نړیوال هوایي ډګر د محلي ترمینل مخې ته د خیبر په نوم څلورلارې چې چارې یې څه موده وړاندې پیل شوې وې په رسمي ډول پرانېسته وشوه.

## په کابل نړیوال هوایي ډګر کې د جومات بنسټ ډېره کېښودل شوه

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت مالي او اداري معین حافظ صدیق‌الله عابد، د کابل نړیوال هوایي ډګر رئیس، د آرو پیټرولیم شرکت رئیس او ځینو نورو چارواکو په ګډون، دیاد هوایي ډګر مینټیننس دروازې ته څېرمه په ۱۰۴ متره مربع ځمکه کې د جومات بنسټ ډېره کېښودل شوه. دا جومات چې د آرو پیټرولیم شرکت له لورې د څه کم پینځه میلیونه افغانیو په لګښت جوړېږي، په یو وخت کې به د ۹۰ تنو لمونځ کوونکو د ځایېدو ظرفیت ولري.

## د کابل نړیوال هوایي ډګر عمومي برېښنایي دروازه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت مالي او اداري معین حافظ صدیق‌الله عابد او د کابل هوایي ډګر رئیس مولوي عبدالهادي محمد د کابل نړیوال هوایي ډګر عمومي برېښنایي دروازه ګټې اخیستنې ته وسپارله.
یاده دروازه چې د برېښنایي چک او تلاشۍ وړتیا لري، د مسافرو خوندیتوب په موخه جوړه شوې ده چې په جوړښت یې څه د پاسه دېرش زره امریکایي ډالره لګښت راغلی دی.



## ټرانزیټي موټرو کې د جي‌پي‌اېس سیسټم د نصب په پار ناسته وشوه.

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت مالي او اداري او واټ ټرانسپورټ معینانو، د مالیې، صنعت او سوداګرۍ، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، کانونو او پټرولیم وزارتونو، د چارو اداري استازو او اړوند وزارت رئیسانو په ګډون په یوه غونډه کې په ټرانزیټي وسایطو کې د جي‌پي‌اېس سیسټم پر نصبولو خبرې وکړې، دا سیسټم د ګډونوالو له خوا اړین وګڼل شو او په ژر پیل کېدو یې ټینګار وشو.

باید یادونه وشي چې د هېواد په داخل کې باروړونکو او مسافروړونکو موټرو کې د یاد سیسټم د نصب چارې له څه مودې راهیسې روانې دي.

## د افغانستان، ازبکستان او متحده عرب اماراتو تر منځ درې اړخیزه ناسته ترسره شوه

د افغانستان د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت سرپرست **الحاج ملا حمیدالله اخندزاده**، د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور، د اوسپنې پټلۍ رئیس بخت‌الرحمن شرافت او د ازبکستان هېواد د ټرانسپورټ وزیر الهام محکموف، د کانونو وزیر بابر اسلاموف او همدارنګه د متحده عربي اماراتو لوړپوړي پلاوي تر منځ د کابل نړیوال هوایي ډګر کې درې اړخیزه ناسته وشوه. په دې ناسته کې د افغانستان د کانونو د استخراج، د واټ ټرانسپورټ، ټرانزیټ، اوسپنې پټلۍ په پراختیا او همدارنګه د سویلي او منځنۍ اسیا د وصل په تړاو خبرې اترې وشوې.

هېره دې نه وي چې تر دې ناستې یوه میاشت مخکې (۱۴۰۲/۶/۴)نېټه هم د ازبکستان یو لوړپوړی پلاوی افغانستان ته راغلی و، چې په تورخم سربېره یې له ځینو نورو ټرانزیټي سیمو څخه لیدنه وکړه.

## په ترمینلونو کې د مسافروړونکو موټرو چک او تخنیکي ارزونه

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د تخنیکي خدمتونو خوندیتوب ریاست له لورې وخت ناوخت د مسافرو د خوندیتوب او موټرو معیاري کولو په موخه د کابل ښار په ټولو ترمینلونو کې د مسافر وړونکو موټرو تخنیکي وضعیت ارزول کېږي، چې په دې کې د موټرو تخنیکي وضعیت کنټرول، له مسافروړونکو موټرو څخه د اضافي او غیر معیاري چوکیو لرې کولو په ګډون نورې ورته چارې شاملې دي او هغه موټر چې تخنیکي ستونزه ولري فعالیت یې ځنډول کېږي.

## د کابل ښاري موټرو د سپرلیو سر شمېرنه وشوه

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د عامه ښاري ټرانسپورټ تنظیم ریاست له خوا له ده افغانانو او پامیرسینما عمومي تمځایونو څخه غځېدلو سړکونو لپاره د اړتیا وړ موټرو په موخه، مسافروړونکو موټرو کې د سپرلیو سرشمېرنه روانه ده، چې په دې سره به هر سمت او سړک د سپرلیو شمېر ته په کتو د

موټرو شمېر معلوم او په یادو لارو کې به د زیاتو موټرو د فعالیت او ګڼې ګوڼې مخنیوی وشي.

## د ټرانسپورټ او ټرانزیټ ملي ورځ ولمانځل شوه




د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په تالار کې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې پرانیسته یې د یاد وزارت سرپرست **الحاج ملا حمیدالله اخندزاده** وکړه، د یاد وزارت معینانو، د اوسپنې پټلۍ رئیس، د کابل ترافیکو رئیس د وزارت اړوند رئیسانو او د ټرانسپورټي شرکتونو استازو پکې ګډون کړی و، د ټرانسپورټ او ټرانزیټ ملي ورځ ولمانځل شوه. په دې مراسمو کې د یاد وزارت سرپرست په خپله وینا کې د ټرانسپورټ په برخه کې کړې کارونه او همدارنګه د ګاونډیو او سیمې له هېوادونو سره د ځمکني ټرانسپورټ، ځمکنیو دهلېزونو او نورو ترسره شویو پرمختګونو رڼا واچوله.

د اوسپنې پټلۍ رئیس هم په خپلو خبرو کې له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره د رېل‌پټلۍ په برخه کې د شویو پرمختګونو زیري واورول. په اخېر کې د ټرانسپورټي شرکتونو استازي په خپلو خبرو کې د وزارت له کړنو خوښي څرګنده کړه او زیاته یې کړه چې اوس هغه وخت دی چې زموږ خبره په غور اورېدل کېږي او په هره برخه کې راته اسانتیاوې برابرې شوې دي.

## کډوال په وړیا او له لګښت پرته خپلو سیمو ته لېږدول کېږي



د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د حکم پر اساس د کډوالو او راستنېدونکو د ستونزو د بیړني حل په موخه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ له کورنیو چارو، مالیې، ملي دفاع، مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارتونو او د استخباراتو لوی ریاست استازو سره په ګډه یوه کمېټه جوړه شوه. د دې کمېټې له خوا به راستنېدونکو کډوالو ته د ډیورنډ فرضي کرښې سره په خوا کې لنډمهاله پنډغالې جوړېږي، د دوی د ثبت له پروسې څخه وروسته به هره کورنۍ چې کوم ولایت، ولسوالۍ او کلي ته تلل وغواړي، د یادې کمېټې له خوا به ورته په وړیا ډول دولتي او شخصي باري موټر برابرېږي او خپل ولایت ته به په خوندي ډول لېږدول کېږي.

باید یادونه وشي چې په هر ولایت کې یوه کمېټه جوړه شوې ده چې مشري یې د همغه ولایت د واټ ټرانسپورټ ریاست پر غاړه ده، چې د یادو وزراتونو اړوندو ادارو په ملتیا به د کډوالو بېړنیو ستونزو ته چټکه رسېدنه کوي.

## کابل ته د فلای دوبۍ الوتنې بیا پیل شوې



د فلای دوبۍ هوایي شرکت له اوږده ځنډ وروسته بېرته په ۱۴۰۲ د لړم میاشتې په ۲۴ نېټه افغانستان ته خپلې الوتنې پیل کړې، د دې الوتنې د پرانیستو په مراسمو کې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د هوایي ډګرونو لوی رئیس الحاج عبدالستار "غروال" او د کابل نړیوال هوایي ډګر رئیس مولوي عبدالهادي "محمد" د فلای دوبۍ هوایي شرکت استازو او نورو اړوندو مسئولینو ګډون درلود. د فلای دوبۍ هوایي شرکت الوتنو له بیا پیلېدو سره به د مسافرو ډېرې ستونزې حل او د هېواد تازه او وچه مېوه به د نړۍ نورو هېوادونو ته ولېږدول شي او د دې تر څنګ به له نړۍ سره د اړیکو په پیاوړتیا او سوداګریزه پراختیا کې مهم رول ولوبوي. هېره دې نه وي چې تر دې وړاندې نورو نړیوالو هوایي شرکتونو هم افغانستان ته الوتنې درلودې او د فلای دوبۍ تر څنګ به په نږدې راتلونکې کې ځینې نور نړیوال هوایي شرکتونه هم افغانستان ته خپلې الوتنې پیل کړي.

## د یونان په یوه ښکلې جزیره کې پر موټرو بندیز لګېدلی دی



د یونان په هائیډرا جزیره کې د امبولانس او اوروژنې له موټر پرته په نورو ټولو عامو موټرو بندیز لګول شوی دی. په هغه راپور کې چې د دې سیمې په اړه خپور شوی، ویل شوي دي چې د موټرو د شور او لوګیو له کبله د دې جزیرې ښکلا ته چې چاپېره شنې اوبه، پاکې صفا کوڅې، سړکونه او د خوشبولرونکو ګلونو ونې لري زیان رسېږي. په دې سربېره د دې ښار په تنګو کوڅو کې د موټرو چلول هم سخت دي، اوس یکې یوازې د آسونو د پښو اواز اورېدل کېږي، چې د دې کوڅو خاموشي ماتوي او د دې ځای خلک هم د تګ راتګ او د توکو د لېږد رالېږد لپاره له آسونو، کچرو او خرو څخه ګټه اخلي. دې جزیرې ته تللي ګرځندویان وایي چې دا یو داسې ځای دی چې انسان یکې د خپلې ماضي ننداره کولی شي او په زړه پورې خبره خو دا ده چې په دې ځای کې د موټرو د ګرځبندیز نه وروسته ځانګړی سکون او خوښي ښکارېږي.

# هده‌ها و ترمینل‌ها

هده‌ها و ترمینل‌ها در تنظیم وسایط، جلوگیری از ازدحام و بی‌نظمی در شهرها و انتقال مسافرین و کالاهای تجارتی به‌طور مصؤن به مناطق مختلف نقش مهم ایفا می‌کنند.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی همواره در تلاش است تا روند ساخت هده‌ها و ترمینل‌ها و معیاری سازی آن را ادامه دهد.

به همین منظور در جریان سه ماه گذشته در راستای ساخت و ساز هده‌ها و ترمینل‌های وسایط مسافربری و باربری، اقدامات ذیل انجام شده و این دست‌آوردها را داشته است:

## امضای تفاهمنامه اعمار هده وسایط مسافربری ولایت بلخ

میان وزارت ترانسپورت و هوانوردی و مالک هده ترانسپورتی واقع در ولسوالی نهرشاهی ولایت بلخ با حضور داشت محترم الحاج ملا عبدالسلام حیدری، معین ترانسپورت جاده‌ای تفاهمنامه اعمار هده وسایط مسافربری کوچک ظرف چهار بولک دولت‌آباد و فیض‌آباد امضاء شد.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی هده‌های ترانسپورتی را به‌منظور تنظیم وسایط نقلیه از شکل پراکنده به یک مکان واحد غرض کاهش ازدحام ترافیکی در داخل شهر، انسجام فعالیت‌های وسایط، عرضه خدمات به سکتور خصوصی و ایجاد سهولت به شهروندان، از طریق سکتور خصوصی اعمار می‌کند.

## تفاهمنامه اعمار هده وسایط مسافربری ولایت بلخ امضاء شد

تفاهمنامه اعمار هده وسایط مسافربری کوچک ظرف واقع در سمت غرب شهر مزارشریف به ولایات جوزجان، سرپل، فاریاب و ولسوالی‌های این ولایت‌ها میان وزارت ترانسپورت و هوانوردی و مالک هده با حضور داشت محترم الحاج ملا عبدالسلام حیدری، معین ترانسپورت جاده‌ای به امضاء رسید.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی هده‌های ترانسپورتی را به‌منظور تنظیم وسایط نقلیه از شکل پراکنده به یک مکان مناسب جهت انسجام فعالیت وسایط نقلیه، جلوگیری از ازدحام ترافیکی، عرضه خدمات به سکتور خصوصی و ایجاد سهولت به شهروندان، از طریق سکتور خصوصی اعمار می‌کند.

## هده‌های دو ولسوالی ولایت غزنی به سمت جنوب شرقی شهر منتقل شد

هده‌های ولسوالی‌های آب‌بند و گیرو مربوط به ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت غزنی که پیش از این در جاده شفاخانه ملکی غزنی نزدیک به تانک تیل تاج اولیا موقعیت داشتند، به ساحه قلعه امیرمحمدخان منتقل شدند.

این هده‌ها که به‌منظور جلوگیری از ازدحام ترافیکی در شهر و فراهم شدن سهولت برای مسافرین و رانندگان وسایط مسافربری نقل

مکان کرده هوتل، مسجد، توقف‌گاه و سایر تسهیلات در آن فراهم است.

## در ولایت غزنی چهار هده کوچک به یک هده بزرگ منتقل شد

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت غزنی به‌منظور نظم شهری و جلوگیری از ازدحام ترافیکی هده‌های کوچک توحیدآباد، نوغه، سفنده و شهباز را به یک هده بزرگ در نزدیک مسجد الجهاد انتقال داده است.

با نقل مکان این هده‌ها، در بخش فعالیت های ترانسپورتی نظم بیشتر ایجاد خواهد شد.

مسئولان ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت غزنی می‌گویند، تلاش می‌کنند تا برای شهروندان خدمات بهتر ترانسپورتی ارائه شود.

## برای سه ولسوالی ولایت ننگرهار هده جدید ایجاد شد

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت ننگرهار به‌منظور نظم شهری و جلوگیری از ازدحام ترافیکی برای وسایط مسافربری ولسوالی‌های خوگیانی، شیرزاد و حصارک و شهرک چمتال هده جدید ایجاد کرده‌است.

این هده که در چهارراه دو سرکه شهر جلال آباد ساخته شده‌است، دارای مسجد، سالون انتظار برای خانم‌ها و آقایان، توقف‌گاه وسیع و سایر امکانات مورد نیاز در آن فراهم می‌باشد.

## برای وسایط باربری در بندر آقینه یک توقف‌گاه وسیع اعمار شده‌است

برای وسایط باربری در بندر آقینه مربوط به ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت فاریاب یک توقف‌گاه در ۱۵ جریب زمین اعمار شده است.

در این توقف‌گاه آب آشامیدنی، اتاق‌های منظم برای رانندگان و سایر امکانات فراهم شده است.

با اعمار این توقف‌گاه، وسایط باربری در مکان منظم و مصؤن توقف می‌شود که به‌طور کامل از ازدحام ترافیکی و توقف وسایط باربری در جاده جلوگیری صورت می‌گیرد.

## برای وسایط مسافربری هر ساحه در کاپیسا توقف‌گاه تعیین شده‌است

باشندگان ولایت کاپیسا از اقدامات مسئولان ترانسپورت این ولایت ستایش می‌کنند و می گویند، برای وسایط مسافربری هر منطقه توقف‌گاه‌های خاص تعیین شده که در هر زمانی می‌توانند از آن رفت و آمد کنند.

برای باشندگان این ولایت از طریق سه بندر و پنج هده خدمات ترانسپورتی ارائه می‌شود.

## تفاهمنامه ارائه خدمات بهتر در بخش ترانسپورت زمینی امضاء شد

محترم حافظ صدیق‌الله عابد، معین مالی و اداری وزارت ترانسپورت و هوانوردی با مالک زمین جهت اعمار هده وسایط مسافربری یک تفاهمنامه امضاء کرد.

این هده که در سرای شمالی مربوط ناحیه یازدهم شهر کابل به‌منظور تنظیم فعالیت وسایط مسافربری اعمار می‌شود، از آن مسافرین ولایات کابل- پروان، پنجشیر و کاپیسا رفت و آمد می‌کنند.

## ترمینل وسایط باربری در شیرخان بندر به بهره‌برداری سپرده شد

یک ترمینل به ارزش ۱۱ میلیون افغانی در ۲۰ جریب زمین در شیرخان بندر ولایت کندز اعمار و به بهره‌برداری سپرده شد.

این ترمینل که در این منطقه برای وسایط باربری یک ترمینل بزرگ و معیاری است، گنجایش حدود ۹۰۰ واسطه باربری را دارد.

با بهره‌برداری این ترمینل از بی‌نظمی وسایط باربری در شیرخان بندر جلوگیری می‌شود و در توسعه امورات تجارتی نیز نقش مؤثری خواهد داشت.

## یک توقف‌گاه وسیع برای وسایط باربری در ولایت بغلان ساخته شد


ریاست ترانسپورت جاده‌ای ولایت بغلان در ۴۰ جریب زمین برای وسایط مسافربری یک توقف‌گاه وسیع ساخته است.

این توقف‌گاه در منطقه شمرق ولایت بغلان موقعیت دارد که با اعمار آن از ازدحام ترافیکی در داخل شهر و توقف وسایط بر سرک جلوگیری می‌شود.

## برای چهار ولسوالی ولایت ارزگان یک هده جدید ساخته شد

آمریت تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت ارزگان به‌منظور نظم شهری و جلوگیری از ازدحام ترافیکی برای ولسوالی‌های خاص ارزگان، گیزاب، چنارتو و چوره هدهٔ جدید ساخته شد.

این هده که در کنار جاده عمومی خاص ارزگان قرار دارد دارای مسجد، سالون انتظار منظم برای خانم‌ها و آقایان، توقف‌گاه وسیع، وضوخانه و سایر تسهیلات برای مسافرین می باشد.



# په څو ولايتونو کې د اداري ودانيو د بنسټ ډبره کېښودل شوه





د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تل هڅه کوي چې په ټولو ولايتونو کې يې ټرانسپورټي چارې معياري او د هرې سيمې اوسېدونکو ته د سفر کولو پر وخت پوره اسانتيا موجوده وي، په همدې موخه ياد وزارت په هغو ولايتونو کې چې معياري اداري ودانۍ نه لري، ودانۍ ورته جوړې او هر کارکوونکي ته منظمه کاري ساحه برابره کړي، تر څو خدمتونه په سمه توګه ترسره شي. اوس مهال د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لورې په لاندې ولايتونو کې د اداري ودانيو د بنسټ ډبره اېښودل شوې او عملاً پرې کار روان دی:

---

**د لوګر ولايت د واټ ټرانسپورټ آمريت ودانۍ**

د لوګر ولايت د واټ ټرانسپورټ آمريت لپاره د واټ ټرانسپورټ معين الحاج ملا عبدالسلام حيدري په مشرۍ د لس ميليونه افغانيو په لګښت د نوې ودانۍ بنسټ ډبره کېښودل شوه، دا ودانۍ به په دريو پوړونو کې په ۱۸۸ مربع متره ځمکه کې جوړېږي او د جوړېدو چارې به يې په پينځو مياشتو کې بشپړېږي.

**پکتيا ولايت د واټ ترانسپورټ ودانۍ**

د پکتيا ولايت واټ ترانسپورټ رياست لپاره د نوې ودانۍ بنسټ ډبره د هوايي ډګرونو لوی رئيس الحاج عبدالستار غروال لخوا کېښودل شوه، چې په ۳۰۸ مربع مترو ځمکې کې به په دريو پوړونو کې د نهه ميليونو افغانيو په لګښت جوړېږي او چارې به يې په څلورو مياشتو کې بشپړېږي.

**د بلخ ولايت د واټ ټرانسپورټ رياست ودانۍ**

د بلخ ولايت د واټ ټرانسپورټ رياست ودانۍ د بنسټ ډبره د پلان او پاليسۍ رئيس محمد رستم حفيظيار لخوا کېښودل شوه، چې د ۳۰۰ مربع مترو په اندازه ځمکه کې به د نهه ميليونو افغانيو په لګښت په دوو پوړونو کې جوړېږي او چارې به يې په پينځو مياشتو کې بشپړېږي.

## د ننګرهار ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست ودانۍ

د ننګرهار ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست ودانۍ د بنسټ ډبره د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري لخوا کېښودل شوه، چې په څه باندې درې سوه مربع مترو په اندازه ځمکه کې د اتهنیم میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي او چارې به یې شپږو میاشتو کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د دې تر څنګ پورتنیو ودانیو ته ورته اداري ودانۍ د هېواد په نورو ولایتونو کې هم جوړېږي، په نیمروز او جوزجان ولایتونو کې یې کار کابو اویا سلنه بشپړ شوی، په فاریاب او پروان ولایتونو کې پرې کار روان دی د دې ترڅنګ په سرپُل ولایت کې پرې نوی کار پیل شو او په ځینو نورو ولایتونو کې به هم پرې ژر کار پیل شي، چې پوره معلومات به یې په بله ګڼه کې درسره شریک کړو.

## بې پیلوټه باروړونکې الوتکه جوړېږي

په بریتانیا کې ډرون لاینر (Droneliner) کمپنۍ غواړي چې د توکو یا بار وړلو لپاره ځانګړې بې پیلوټه الوتکه جوړه کړي، دا الوتکه به تر اوسنیو باري الوتکو زیات بار وړلی شي او تر دې ښه خبره به یې دا وي چې ډېر کم لګښت به ولري. د ځمکنی ټرانسپورټ څخه د هوایي ټرانسپورټ لګښت زیات وي، او د پیلوټانو معاش ډېر؛ خو د ډرون لاینر الوتکې به نه پیلوټ او یا هم بلې عملې ته اړتیا ولري. له دې سره به هوایي ټرانسپورټ کابو اویا سلنه ارزان شي.

دا ډول الوتکې د افغانستان په څېر هېواد چې سمندر ته لاره نه لري، ډېرې ګټورې تمامېدای شي. دې کمپنۍ خپله دا الوتکه داسې ډیزاین کړې ده چې ډېر بار پکې ځایدای شي. له بلې خوا د دې الوتکې د سون لپاره تر ډېره له هایدروجن څخه کار اخیستل کېږي، خو ورسره په یو وخت د پورته کېدو او کېناستو پر مهال له تېلو او لمریزې انرژۍ هم ګټه اخیستلی شي. دا ډرون الوتکه، چې یو DL 200 انجن لري، له ۳٦ تر ۴۰ کانټېنره یا ۲۰۰ ټنه بار وړلی شي. خو له دې ټولو خبرو سره سره لا هم د بریتانیا د ډرون لاینر الوتکې په ازمېښتي پړاو کې دي.



# کورني سفرونه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند پیاوړتیا او له ولایتونو سره د اړیکو د لا ټینګښت او د چارو ارزونې په موخه په بېلابېلو وختونو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسئولین ولایتونو ته سفرونه کوي، هلته د ټرانسپورټ او هوايي چلند له روانو چارو څخه له نږدې لیدنه او څارنه ترسره کېږي.

## د واټ ټرانسپورټ معین او ورسره مل پلاوي تر شلو زیاتو ولایتونو ته سفر وکړ

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په مشرۍ چې د بشري سرچېنو رئیس مولوي محمد موسی غزنوي او د ټرانسپورټي خدمتونو د عرضې پخوانی رئیس احمد جاوید فیضي یې هم ملتیا کوله، پکتیا، خوست، پکتیکا، ننګرهار، کندهار، هلمند، کندوز، هرات او مزارشریف په ګډون له شلو څخه زیاتو ولایتونو ته سفر ترسره کړ. د هېواد له ټولو ټرانسپورټي بندرونو څخه یې له نږدې لیدنه وکړه، د موټرچلوونکو، ټرانسپورټي شرکتونو له استازو او سوداګرو سره یې له نږدې ناستې وکړې، د دوی ځینې ستونزې یې واورېدې او د ولایتونو له اړوندو چارواکو سره یې د ټرانسپورټي چارو د لا ښه والي په پار ګټورې ناستې وکړې او د دې تر څنګ یې د باروړونکو او مسافروړونکو موټرو له هډو او ترمینلونو څخه هم له نږدې لیدنه وکړه او د بشري سرچېنو رئیس له خوا په دې ولایتونو کې د غوره چارو ترسره کولو په موخه خالي بستونو ته د نویو کارکوونکو ګمارلو په موخه ازموینه واخیستل شوه او د شته‌وو ارزونه ترسره شوه.

## د واټ ټرانسپورټ معین د تورخم له ټرانسپورټي چارو لیدنه وکړه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري چې اړونده رئیسانو او د ننګرهار ولایت مرستیال والي یې ملتیا کوله، ننګرهار ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د تورخم له ټرانسپورټي چارو څخه لیدنه وکړه، هلته یې د ټرانسپورټ له مسئولینو سره په ټرانسپورټي مسائلو خبرې وکړې او د یو شمېر سوداګرو، د باروړونکو موټرو مالکانو او موټرچلوونکو ستونزې یې له نږدې واورېدې او ورسره یې د حل کېدو ژمنه وکړه.

## کندهار او بلخ ولایتونو ته د هوايي ډګرونو د لوی رئیس سفر

د ټرانسپوټ او هوايي چلند وزارت د هوايي ډګرونو لوی رئیس الحاج عبدالستار غروال او ورسره مل پلاوي په کندهار او بلخ ولایتونو کې د احمدشاه بابا او مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوالو هوايي ډګرونو ته د نویو کارکوونکو ګمارنې په پار سفر ترسره کړ، هلته یې د یادو هوايي ډګرونو له بېلابېلو برخو څخه له نږدې لیدنه وکړه او له مسئولینو سره یې د دې هوايي ډګرونو پر وضعیت خبرې وکړې او هغو

کارکوونکو ته چې د اوروژنې په برخه کې عملي او نظري زده کړه ورکړل شوې وه، د غروال صاحب له خوا سرټيفکيټونه ورکړل شول.

## مالي او اداري معين هرات ولايت ته سفر ترسره کړ

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معين حافظ صديق الله عابد او ورسره مل پلاوي هرات ولايت ته د خپل سفر په ترځ کې د دې ولايت د واټ ټرانسپورټ د ټرانزيټي موټرو د تمځايونو، د انلاين راونډ نوبت سيستم او د موټرو د ثبت له چارو څخه له نږدې ليدنه وکړه او د چارو د لا ښه والي په پار يې اړونده کارکوونکو ته لازمي لارښوونې وکړې او هلته يې د دې ولايت له والي سره په يوه ناسته کې په ټرانسپورټي مسائلو او د عوايدو پر شفافيت خبرې اترې وکړې او د دې تر څنګ يې باروړونکو موټرو ته د يوه ترمينل د جوړېدو چارې هم پيل کړې چې په لنډه موده کې به فعال او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

## د څارنې رياست هيئت کندهار ولايت ته سفر وکړ

ياد هيئت کندهار ولايت ته د خپل سفر په ترځ کې د احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډګر او د دې ولايت له ټرانسپورټي بندرونو څخه ليدنه او د مسافر وړونکو موټرو له کرايې څخه څارنه وکړه او د دې ترڅنګ يې د ياد ولايت د واټ ټرانسپورټ رياست کاروکوونکو ته د ظرفيت لوړونې په موخه يو ورځنی سمينار هم وړاندې کړ. هېره دې نه وي چې د څارنې رياست نوموړي هيئت تر دې وړاندې هم ځينو ولايتونو ته سفرونه کړي دي، هلته يې د چارو څارنې تر څنګ کارکوونکو ته په خپلو اړوندو برخو کې سمينارونه وړاندې کړي دي.



# بهـــــرني سفرونه

په دې تېرو څو میاشتو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لوړپوړو چارواکو ځينو بهرنيو هېوادونو ته سفرونه ترسره کړل، د دې سفرونو په ترڅ کې د ځمکني ټرانسپورټ پر پراختيا، د اسانتياو په برابرولو او دې ته ورته نورو مسائلو مهمې او ګټورې خبرې اترې او ناستې وشوې.

## د ټرانسپورټ او هوايي چلند سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده ايران هېواد ته سفر ترسره کړ

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال **ملا عبدالغني برادر** په مشرۍ يو لوړپوړی پلاوی چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده هم ورسره مل و، ايران هېواد ته سفر ترسره کړ، هلته يې د ايراني چارواکو سره په ټرانسپورټي او ټرانزيټي مسائلو خبرې اترې وکړې، د واخان دهلېز پر جوړولو او له دې مسير څخه پر ګټه اخيستو ټينګار وشو او د افغانستان د وارداتو او صادراتو پر زياتوالي او چابهار بندر کې د ځينو ننګونو پر حل کېدو هم مهمې خبرې اترې وشوې.

## مالي او اداري معين چين هېواد ته سفر ترسره کړ

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معين حافظ صديق‌الله عابد په چين هېواد کې د «يوه لاره او يو کمربند» په دريم فارمټ کې برخه واخيسته دا پروګرام چې د چين هېواد په بيجينګ ښار کې جوړ او بېلابېل پروګرامونه پکې شامل وو، ګډونوالو پکې خپل ليدلوري او نظرونه شريک کړل. د ټرانسپورټي اړيکو، انرژۍ، سوداګرۍ او د نړيوالو اړيکو پر پياوړتيا او په خپل‌منځي همغږۍ پکې ټينګار وشو او د دې تر څنګ محترم عابد صاحب د چين هېواد د هوايي چلند معين هان‌جون او د واټ ټرانسپورټ معين ژوشينګوان سره هم وليدل او ورسره يې د افغانستان او چين ترمنځ د ځمکني ټرانسپورټ او هوايي چلند برخو په پياوړتيا او اړوند مسائلو خبرې وکړې.

## ازبکستان هېواد ته د دفتر رئيس او ورسره مل پلاوي سفر

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د دفتر رئيس انجنير محمد زاهد همت چې د کانونو او پټروليم، ماليې، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو استازو يې هم ملتيا کوله، ازبکستان هېواد ته سفر ترسره کړ، ياد پلاوي د ازبکستاني لوري سره د ځمکني ټرانسپورټ او سوداګرۍ په پراختيا او ځينې نورو مهمو اړينو موضوعاتو خبرې اترې وکړې.

# په ۲۰۲۳ کال کې د نړۍ غوره هوايي ډګرونه



د سينګاپور چانګي هوايي ډګر | د قطر حماد نړيوال هوايي ډګر | د جاپان په ټوکيو کې د هونډا نړيوال هوايي ډګر | سويلي کوريا د انچئون نړيوال هوايي ډګر | د فرانسې چارليس‌دوګول هوايي ډګر

په ۲۰۲۳ز کال کې د نړۍ تر ټولوغوره هوايي ډګرونه د سينګاپور چانګي، د قطر حماد، د ټوکيو هاندای د سويلي کوريا اينچئون او د پاريس شارل دوګل هوايي ډګرونه وو. په دې هوايي ډګرونو کې بېلابېلې اسانتياوې او ځانګړتياوې شته، چې هم له نړيوالو معيارونو سره په پوره توګه برابرې دي او هم د مسافرو لپاره ځانګړې اسانتياوې لري. هوايي ډګرونه د يوه هېواد لپاره د يوې داسې دروازې حيثيت لري چې مسافر ترې بل بهرني هېواد ته د هوا له لارې سفر کوي او هر کال ميليونونه کسان په دې لاره تګ راتګ کوي، که چېرې په دې مهم ځای کې ورځ او مناسب امکانات او تجهيزات موجود وي، مسافرو او ګرځندويانو ته ارامتيا او راحت وربښي او له ځان سره د نه هېرېدونکو شېبو خوندورې خاطرې لېږدوي. په همدې موخه ځينې هېوادونه هڅه کوي چې د غوره او معياري هوايي ډګرونو په جوړولو سره زيات ګرځندويان د ځان په لور را مات کړي.

د سکای ټرکس (Skytrax) مؤسسه چې د هوايي ټرانسپورټ په برخه کې فعاليت کوي، د ځينو هغو غوره هوايي ډګرونو نوملړ يې خپور کړی دی چې مسافرو ته په بېلابېلو برخو کې اسانتياوې برابروي.

## د سينګاپور چانګي هوايي ډګر:

په ۲۰۲۳ز کال کې د سينګاپور چانګي هوايي ډګر (Changi Airport) د نړۍ تر ټولو غوره هوايي ډګر ونومول شو. دا هوايي ډګر ځانګړي خدمتونه او اسانتياوې لري چې د سينګاپور ښار (پلازمېنې) ته يې ځانګړې ښايست وربښلی دی.

سينګاپور د خپل متنوع خوړو له کبله په نړۍ کې شهرت لري او له همدې امله د چانګي هوايي ډګر د غوره خوړنځايونو (رستوړانتونو) او ځينې نورو اسانتياوو په درلودو جايزه هم ګټلې ده. سربېره پر دې ياد هوايي ډګر د نړۍ تر ټولو لوړ سرپټې زاوۀ (ابشار) او لوړ ښويوونی لري، چې مسافر يې له لېدو او تفريح څخه خوند اخلي. مسافر کولی شي چې د شپې د ارام او هوسايۍ لپاره د «کرون پلازای چانګی» ميلمستون چې د اتم ځل لپاره د نړۍ د غوره هوايي ډګر ميلمستون په توګه وټاکل شو، مراجعه کوي او مسافرين پکې د الوتنې تر مهاله ښې او خوندورې شېبې تېروي.



## د قطر حماد نړيوال هوايي ډګر

حماد نړيوال هوايي ډګر (Hamad International Airport) چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې موقعيت لري، د عصري او معياري امکاناتو په درلودلو، مسافرينو ته د ډېرو ښو خدمتونو په وړاندې کولو او عالي موقعيت په درلودو د نړۍ په هوايي ډګرونو کې دويم ځای مونډلی دی. د قطر هوايي کرښې ياد هوايي ډګر د خپلو الوتنو د مرکز په توګه کاروي. د حماد نړيوال هوايي ډګر لوی سالونونه، هوسا او ارامېښونکو خونو او د ماشومانو لپاره د لوبځايونو په درلودو د زياتو مسافرينو پام ځان ته اړولی. که چېرې د يوه اوږده سفر څخه وروسته په اوږه کې کوم درد احساس کړی، کولی شی چې د ياد هوايي ډګر په مېلمستون کې د ګلف په مصنوعي لوبې سره د عضلاتو د کښېکاږلو لپاره ترې ګټه واخلی او خپل دردونه ارام کړی او د دې ترڅنګ حماد هوايي ډګر مسافرينو ته د ښو خدمتونو په وړاندې کولو ډېر ټينګار کوي او د دغه مرکز کارکوونکي د سفر په هر پړاو کې له خلکو سره مرسته کوي چې د الوتنې تر مهاله له هوسا چاپېريال څخه برخمن شي.



## د جاپان په ټوکيو کې د هونډا نړيوال هوايي ډګر

د نړۍ درېيم غوره هوايي ډګر د جاپان پلازمېنې ته د ننوتلو نقطه ده او په ۲۰۲۳ز کال کې يې د نړۍ درېيم

غوره هوايي ډګر ځای خپل کړ. همدارنګه دې هوايي ډګر د سکای ټرکس (Skytrax) تحقيقاتي انسټيټيوټ له لورې د پاکو، ښو او مسافرينو ته د غوره خدمتونو په برخه کې جايزه ترلاسه کړې. دا بوخت نړيوال هوايي ډګر د ټوکيو له زړه څخه يوازې شپاړس کيلومتره لرې دی، د دې هوايي ډګر يوازې موقعيت د دې لامل نه دی چې مسافرين يې د ځان پر لور راجلب کړي دي، دا هوايي ډګر په خپلو ترمينلونو کې د هوسايۍ او پاکۍ، د خوړو بېلابېلو ډولونو او ټوکيو ښار ته د ګرځندې او ښه ټرانسپورټ امکان، ورته دا لوړ امتياز ور په برخه کړی دی.



## سويلي کوريا د انچئون نړيوال هوايي ډګر

د انچئون نړيوال هوايي ډګر (Incheon International Airport) په ۲۰۲۳ز کال کې د نړۍ څلورم غوره هوايي ډګر ځای خپل کړ. دا هوايي ډګر د سپا salus per aquam (SPA) (د اوبو له لارې روغتيا) څخه برخمن دی، چې د روغتيا په برخه کې پراخه خدمتونه وړاندې کوي او د دې ترڅنګ د مسافرينو لپاره د هوساينې ډېرې ځايونه، د فلم تياتر او د آيس‌سکيټينګ‌رينک (د يخ پر سر ښويدنه/ښويندوکی) اوغوره کارکوونکي لري.

دا هوايي ډګر چې د سويلي کوريا د (سيول) عصري پلازمېنې له اصلي هوايي ډګر څخه ګڼل کېږي، په ۲۰۲۲ز کال کې له ۱۷,۸ ميليونو څخه زياتو مسافرينو ته خدمتونه وړاندې کړې دي.



## د فرانسې چارليس‌دوګول هوايي ډګر:



د فرانسې چارليس دوګول هوايي ډګر په اروپا کې يو له غوره او خورا مهمو هوايي ډګرونو څخه دی.

دا هوايي ډګر په کال کې له ۲٦ ميليون څخه ډېرو مسافرينو ته خدمتونه وړاندې کوي او په نړۍ کې نهم او په اروپا کې دويم تر ټولو بوخت هوايي ډګر ګڼل کېږي.

دا هوايي ډګر چې د پاريس په ښار کې موقعيت لري، د فرانسې تر ټولو لوی هوايي ډګر دی، د چارليس دوګول نوم ورته د دويم نړيوال جنګ نه وروسته غوره شو، چارليس‌دوګول د فرانسې د مقاومت غورځنګ مشر و. په ياد هوايي ډګر کې د دې ترڅنګ نورې هم ډېرې اسانتياوې او ځانګړتياوې موجودې دي.

## شېرخان بندر

شېرخان بندر چې د افغانستان په شمال کې د افغانستان او تاجکستان پر ګډه پوله پروت دی، یو له مهمو بندرونو څخه ګڼل کېږي. تر شلمې زیږدیزې پېړۍ دغې سیمې ته خلکو ترکستان هم ویل. دا وړوکی بندر د قزل کلا په نوم مشهور و، په ۱۳۰۹ل کال قزل کلا کې د یو بندر لپاره ځمکه هواره شوه، چې پکې د ګمرک دفترونه او کار کوونکو لپاره کورونه او ښوونځي جوړ شول. د کندوز په ابادولو او جوړولو کې د دې ځای والي شېر خان (ناشر) لویه ونډه اخیستې وه. کله چې د افغانستان باچا محمد ظاهر شاه کندوز ته لاړ، د هغه ځای د خلکو په غوښتنه یې د قزل کلا نوم شېر خان بندر اعلان کړ.

د یویشتمې زیږدیزې پېړۍ له پېل څخه افغانستان او تاجکستان په ګډه د سیند د پاسه د یو پُل د جوړولو تابیا وکړه او کار ورباندې پیل شو. دا پُل یې د سیند ښکته برخې په (پنج پایان) سیمه کې جوړکړ او له ۱۳۸٦ کال راهیسې ورباندې هره ورځ په سلګونه لویې باروړونکې لارۍ تیرېږي، چې د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګریز توکي سره تبادله کوي.



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي، چې خپلو هېوادوالو ته ښه خدمتونه وړاندې کړي او دوی ته د ښه او هوسا سفر، د سوداګرېزو توکو په لېږد او همدارنګه د ځمکني ټرانسپورټ په ترمينلونو او هوايي ډګرونو کې د سفر ټولې اسانتياوې برابرې کړي.
که چېرې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند له کومې ستونزې سره مخ کېږئ، کولی شئ له موږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ او يا خپل شکايت په همدې شمېره د واټساپ له لارې ثبت کړئ. موږ به هڅه وکړو تر څو ستاسو ستونزو ته په وخت او چټکه رسېدنه وکړو.




## د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت
## د شکاياتو اورېدلو شمېره.

# 0745 69 8000

www.mota.gov.af

# دا وطن به هله شي وطن وطن

پړک یې چې په مصر کې او نُور یې په کنعان کې وي
دا غمی دې ځلنده په گوته د جهان کې وي
دا یوسف غلام نه دی پر چا یې خرڅوې ولې
نه دې په کوهي کې وي او نه دې په زندان کې وي
دا گل دې وزر د بلبل واغوندي او گرځي دې
نه چې بس تړلی دې د خاورو په گلدان کې وي
لمر دې شي په ورځ کې او د شپې دې په سپوږمۍ واوړي
کله دې ختلی لکه ستوری په اسمان کې وي
دې معشوق ته څوک هم چې په ښکلي نظر نه گوري
ښایي چې خلل یې په ایمان او په گومان کې وي
زه وایم چې دا وطن به هله شي وطن وطن
مینه چې د ټول جهان را ټوله په افغان کې وي
گرځې به کاروانه مست که غرونه که راغونه وي
ستا به سرودونه لاروي په بَیابان کې وي.

پیرمحمد کاروان



احمدشاه بابا نړیوال هوایي ډگر (کندهار)

وزارت ترانسپورت و هوانوردی

ریاست اطلاعات عامه و نشرات

مجله

# ترانسپورت و هوانوردی

علمی معلوماتی فرهنگی

